برګه چرګه

(د لنډو طنزونو ټولګه)

لیکوال: شیرشاه "سرتور"

ختیځ بیارغونې اداره (کور)
خپرونو څانګه، خپرنې لړ ۴۶



برګه چرګه

شیرشاه سرتور



کتاب پېژندنه

کتابنوم : **برګه چرګه**

لیکونکی : شیرشاه سرتور

خپرونکی : ختیځ بیارغونې اداره (کور)

ټایپ: د کور د خپرونو څانګه (عمرګل ملنګ)

ډیزاین او بیا کتنه:حفیظ الله تراب او ډاکټر ف. بزګر

چاپ چارې: قدرت الله هېوادپال

د اډانې ډیزاین: حسیب الله هېوادپال، ادریس بزګر

چاپ لګښت : د افغانانو د لوست پروژه (ARP) The Afghan Reading project

چاپنېټه : کب ۱۳۸۲هـ ل/ مارچ ۲۰۰۳ع

چاپشمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

خپرنې لړ : ۴۶

© د چاپ ټول حقوق خوندي دي!

زموږ پته: GPO Box 607, Peshawar, Pakistan

E-mail: kor_bazger@hotmail.com

د ارتباط نورې پتې د کتاب په پای کې وګورئ!

ډالۍ

خپل دروند پلار او درنې مور ته یې
ډالۍ کوم چې د ژوند په هر ډګر کې یې
خپل وقار ساتلی.

مننه او کورودانی

د ښاغلي ډاکټر عبدالرشید څخه مننه چې زما په لومړنۍ هڅونه کې یې ځانګړی ارزښت درلود. د ښاغلي عمرګل ملنګ زیار هم د ستاینې وړ دی او د ښاغلي تراب صاحب څخه ډېره مننه، چې د لارښوونې، اصلاح او سمونې چارې یې په غاړه واخېستې.

په دې ټولګه کې

۱. غوري
۲. جنګي ګډ
۳. برګه چرګه
۴. خیال پلو
۵. بې ځایه ټوکې
۶. کوڅه ډب سپی
۷. نصیب
۸. نشه
۹. ګنډې
۱۰. پایوازان
۱۱. د لېوانو پاچاهي
۱۲. بدنګان که برابرامد
۱۳. دان
۱۴. د ځوانۍ شوخي
۱۵. یو څه

بسم الله الرحمن الرحيم

د خپرونکي سریزه

ډېر د خوښۍ ځای دی چې قدرمنو لوستونکو ته د "برګه چرګه" کتاب وړاندې کوو.

طنزیه داستانونه زموږ په ژبه کې د ګوتو په شمېر دي، نو له همدې کبله موږ دا کتاب چاپ ته چمتو کړ، چې په دې ډول خپلې بې وزلې ژبې او درنو هېوادوالو ته مو څه خدمت کړی وي. په دې کتابګوتې کې ټول ۱۵ طنزډوله داستانونه راټول شوي دي، څرنګه چې د لیکوال دا لومړی کتاب دی، نو څرګنده ده چې طنزونه به یې ډېر پاخه نه وي، خو په ډېرو قصو کې زموږ د ټولنې ترخو حقیقتونو ته ګوته نیول شوی ده او په ډېرو کیسو کې د افغانستان د پېښو تاریخي انځور هم دی لکه "د ځوانۍ شوخي، دانا او داسې نور".

هیله لرو چې دا کتابګوتی درنو لوستونکو ته په زړه پورې وي، او تر یوې اندازې یې د لوستو تنده پرې ماته شي.

د ARP له درنو غړو څخه چې د دې کتاب د چاپ مالي لګښت یې برابر کړ، ډېره مننه کوو.

دا تاسې او دا هم برګه چرګه!

په ډېره مینه

ډاکټر محمد فرید بزګر

غوري

د ژونـد هـر تېـر سـاعت پسې انسانان لاسونه مروړي. که څه هم د بیا لـپاره تکلـیف ته غاړه نږدي، خو تېرې وړځې شپې چې وریادیږي که دېـرې ترخې هم وي نو دومره ویل لازم ګڼي. چې (عجیبه وخت و). سـره له دې چې د (برګې چرګې) په رانیولو کې زما لپاره پوره د دوه ډسـپرین ګولـیو تـاوان و، خو بیا هم د یوې ژوندۍ خاطرې په شکل دومره وتواتېده، چې له زړه څخه یې شونډو ته لار وکړه.

مـا به چې کله ناکله خپلو دوستانو ته د تېرو پېښو نکل کاوه، نو هغوی بـه له خندا څخه کړسېدل. دا چې زما کېسه به رښتینې خندنۍ وه که هغـوی بـه له ریشـخنده خندل، خو زما زړه ته به پوره تسکین حاصل شـو. پـه همدې کې مې یو ملګري مصلحت راکړ: اشناګله! که چیرې دې خـپلو غـورو تـه له شونډو څخه د قلم تر څوکې حرکت ورکړ، په راتلونکې کې به دې د یو ښه طناز قلم ترګوتو شي. نو دغه دې ما هم پـه همـدې هېله او امید د خپل قلم په خوځولو سره د سپین کاغذ پر مخ د څوکرښو په راښکلو "برګه چرګه" جوړه کړه.

زمـوږ هـر لـیکوال ورور که شعر لیکي د شعر میدان ګرمول ستایي، که نـاول لیکي نو وایي ځکه یې لیکم چې د ناولونو کتار لنډکی دی. که لـنډې کیسـې لیکي نو دا ورسره ضروري ګڼي، چې لوی مطلب د لږو الفـاظو پـه نغښـتلو کـې د خلکـو د پوهولو لپاره ځکه غوره دی، چې وخـت قیمتي دی. نو د همدې ویناوالو له برکته زه هم دا ویلای شم چـې د طـنز لـیکل مې په دې غوره وګڼل چې په پښتو ژبه کې طنز د

نشت برابر دی او مینه وال یې ډیر دي. ښه په بیړه یې لوستلو ته چمتو دي، نو ځکه مې خپله برگه چرگه د طنز په ډگر کې پلې کړه. زما خپله لنډه کېسه له طنز څخه خوښه ده. طنز له ناول څخه، ناول له شعر څخه، شعر له نثر څخه او نثر بیا له لنډې کېسې څخه، یعنې یو مې له بل څخه خوښ دي. نو معلومه شوه چې څه لیکلي اثار وي په خپله جامه کې ښه بریښي. نو پکار ده، چې د پښتو ژبې هرې لارې ته څوک غنا وربښلی شي باید دریغ ونه کړي.

شیرشاه سرتور

شاه کځ، پېښور - ۳۰-۱۲-۲۰۰۱

جنګي ګډ

ګډ ورته ووايم که پسه؟ خو راځه چې لاجبر لا ورته ګډ وايه، زه به هم ورته ګډ ووايم. د کوز کلي د ګودر تر څنګ د لاجبر کور و. کليوالو به ورته لاجبر لا ځکه وايه چې تقريباً تر ډېرو مشر و. لاجبر لا ډېر شوقي سړی و. پرته له خپل ځانه يې د هر شي ساتنه کوله.

يوه ورځ له يو کوچي سره يو ښايسته ګډوری و. پر لاره تېرېده، چې نابېره د لاجبر لا سترګې پرې خوږې شوې. بس وار له واره د کوچي په مخ کې سم لکه دېوال ودريد او ورته يې وويل، چې دا ګډ به په ما خرڅوې. کوچي هم ډ لاجبر لا د شوق نه په ګټې اخيستنې ډېر ګران ورباندې خرڅ کړ او ويې ويل: اههاو! د دې ګډوري ابا پر ټولو ګډانو باندې و. يو هم يده د تابه نه و. ټول ترې تښتېدل، يده دې ابا سره يې جنګ نه سواى کولاى.

هماغه و، چې لاجبرلا ګډوری واخيست او روزنه يې شروع کړه. لاجبرلا د ګډوري سره ډېره مينه درلوده. په ډېر زيار او ناز يې لوياوه. خوراک او څښاک يې که د يوه انسان څخه زيات نه و نو کم هم نه و. ګډ به چې څومره لوئيده لاجبرلا به د ګډ د غاړې رسۍ او هغه موګی چې ګډ به ورباندې تړلی و، غټ او قوي کاوه. هسې ګډ له څېرې هم خطرناک ښکارېده. عجيبه سترګې او ښکرونه خداى ورکړي وو. د وخت په تېرېدو د ګډ نه سم سندا جوړ شو. لاجبر لا به همېشه د ګډ رسۍ د سر څخه نيولې وه او په ډېر زور چې ګډ به مخکې زور کاوه او لاجبرلا وروسته، له کور څخه دېرې ته او له

دېرې څخه کور ته راوسته. ګډ نامراده هم لاجبر لا پېژنده. چې کله بـه دېرې ته څوک راغی نو ګډ به زورونه شروع کړل. کله به يې سر پورتـه کـړ، شـا تـه بـه لاړ، کلـه بـه يې سر ټيټ کړ په مخ به راغی. لاجـبرلا بـه په داسې وخت کې په ډېره مېړانه او دلاسا خپل ګډ ته وويل: سم شه ميلمه دی! بيا به يې ميلمه ته د ګډ ستاينې پيل کړې؛ د دې ګډ له پلار څخه هم چا ښه ورځ نه ده ليدلې او دا هم جنګي دی. دومره زور لري چې مه پوښته يې مه کوه. هيڅ حيوان د ده له تابه نه دی.

چې کله به شپه شوه لاجبر لا به د خپلې کلا دروازې بندې کړې. د کوټـو دروازې بـه يـې هـم وتړلـې. د ګـډ رسۍ به يې ورته په غاړه واچوـله او په وياړ به يې ورته وويل: بچيه تکړه شه چې غل درڅخه د ديـوال شـا تـه هـم ژوندی پاتې نه شي. ته څارنه کوه او موږ به خوب. د خپل کور وګړو ته به يې هم توصيه کوله، چې وه الکو! که څـوک د شـپې د بـاندې وځـئ مـا راويښـوئ. هسې نه چې ګډ مو دانګـې وانګې کړي. ګډ به چې د شپې له وېرې د لاجبر لا د کوټې دروازه زور کوله نو لاجبرلا به په ډېر غرور ويل: سم شه... دې کوټه کې ټول خپل دي. لاړ شه پېره دې وکړه.

کله چې به غوايي يا سنډا ورته کتل نو د لاجبرلا خولې چېرته د ګډ کمه ويله. غوايي ته به يې ويل: ځه که اوس مې خپل ګډ درپرېښود نه به ته يې نه دا برګبرګکتل. کله به چې چېرته سپي غړمبېدل، نو لاجبر لا به په هماغه‌لهجه ويل، " چې څومره تکړه شئ، زما د ګډ د لکـۍ زور هـم نه لرئ." لاجبر لا ډېر وخت د خپل ګډ په لاپو تېر کړ

او همدومره بـه یې ګډ هم نازاوه. کله به یې غوږ کړ، کله به یې په صابون ومینځه او کله کله به یې خولې ته جوړه کړې مړی هم ور پـه ځـوله کـړه. پـه دېره کې چې به کله د لاجبرلا همزولي راغونډ شـول، نـو له ټوکو به یې ورته وویل: لاجبره! دا ګډ دې په ما خرڅ کـړه، یـا یې په کوم څاروي را سره بدل کړه. خو هغه به په جواب کـې ورتـه وویـل: تـه به دې دا ښځه په ما خرڅه کړې؟ بل به پکې راودنګـل؛ یـره کلـه نـه چـې د لاجـبر لا ګډ کلي ته راغلی، موږ د ورځې هیڅ د غله مخ نه دی لیدلی. بس چا به څه ویل او چا څه!! په همدې به په دېره کې ګرمه مرکه روانه وه.

د لـوی اخـتر شـپې رانـزدې کېـدې، هر چا د قربانی لپاره څاروي اخیسـتل. یوه ورځ د کلي یو ځوان چې باغي نومېده، په ټوکو کې لاجبرلا ته وویل: لاجبر ماما دا ګډ دې په ما خرڅ کړه، چې قرباني یـې کـړم! پوهېـږئ، چې په لاجبر لا دا خبره څومره بده ولګېده؟! بـاغي ته یې مخ کړ او ویې ویل: باغي ګیه! یا دې ځان قرباني کړه یـا دې پـلار. زما ګډ د دې کلي اتل دی او ته ورته په دومره سپکه سترګه ګورې؟! راشه ټول قوم دې رامیدان ته کړه، چې ور سره یې وجـنګوم!!! بـاغي نور څه ونه ویل، خو په زړه کې یې ورته واچوله. اخـتر تـه به دوه درې ورځې پاتې وې، چې باغي د قربانی لپاره یو چـنجن پسه کلي ته راووست. سبا ورځ بیا د کلي په دېره کې خلک راټول وو او د لاجبر لا د ګډ د تکړه والي په اړوند خبرې کېدې. د باغي چې لا له پخوا څخه د لاجبر لا ګډ ته په زړه پولی ولاړې وې،

د خبرو منځ ته راودانګل او غږ یې کړ: که رښتیا د لاجبر ماما ګډ تکړه وي، زما د پسه سرد دې په جنګ واچوي.

ولې دې خپل پسه ګوړی زما په ګډ خام خورې، لکه چې د قربانۍ نیت نه لرې؟ خو باغي ټینګار کاوه. اخر کلیوالو لاجبر لا ته مخ راواړاوه: ستا ګډ هسې هم زورور دی، پرې چې د باغي ګډ له قربانۍ پاتې شي! لاجبرلا باغي ته ورغږ کړ: ورشه راوله دا ګیدړ دې، چې ژوندې دې نه دی خوښ. کلیوال ټول ودرېدل. د باغي وړوکی چنجن پسه او د لاجبرلا د سندا غوندې ګډ په جنګ واچول شول. جنګ پیل شو. کلیوالو وویل: یره لکه چې د باغي ګډ دانګې وانګې کړي. باغي هم په خپل پسه دومره باور نه درلود، یو تېره چاقو یې د خپل پسه د حلالولو لپاره په جب کې پټ ساتلی او چمتو ولاړ و. هغوی دوه ډغرې ښکر په ښکر شول، خو په دریم ځل چې وروسته لاړل او بېرته مخکې راتلل، د باغي ګډ پوره مهارت وکړ، سر یې ټیټ کړ او خپل واړه ښکرونه یې د لاجبر لا د ګډ ګېډې ته برابر کړل او چې د لاجبر لا ګډ تر څو ځان خوځاوه، نو کولمې یې له پوستکي نه راووتې. نور یې نو وروسته ونه کتل، سر یې ټیټ کړ او د کور پر لور یې منډه کړه. د باغي پسه لا وریسې و، چې کلیوالو خنداګانې، هاها او چکچکې پیل کړې.

له دې سره لاجبر لا د خپل ګډ په څېر سر ښکته ونیو او د کور پر لور په تلوار رهي شو، خو دې کې باغي ورغږ کړ: لاجبر ماما!" که په تنه وی، نو پیل به د ځنګله باچا وی!!!"

برګه چرګه

لالـو ماما زمـوږ د کوڅـې ګاونـډي و. زوی يـې انځـرګل زمـا د ماشومتوب د لوبو ملګری و. که څه هم انځرګل له ما نه درې څلور کالـه کشـر و، خـو سره له دې ډېر پوه او چالاکه و. ما او هغه د وړو ډېـرې غلاګـانې کـړې وې او يـو بل ته به مو هر راز وايه. يوه ورځ ورپسـې کـور تـه لاړم. لـه وره نه چې وردننه شوم، نو د انځري مور چـې مـا تـه هـم لکـه خپله مور ښکار ېده يو، چرګه پيدا کړې وه. چـرګه ټوله توره وه، خو څو سپينې ښکې يې، هم لرلې. رنګ، يې د چـرګې و، خـو نه پوهېږم، چې څه ورته ووايم؟! کور ته د ننوتو سره چـې څـنګه چـرګې ولـيدم، نـو د خـپلو وړو بچو پر ستونو يې پښې کېښـودې او پـه مـا راشيتې شوه. تر څو چې مې ځان ښوراوه، دوه درې ټونګـې يـې ووهـلم. مـا نـه هـم وار و پار خطا شو او د لويې دروازې سـره نـږدې د انځـري دوی هوجرې ته ورننوتم او دروازه مـې پـه ځـان پسـې بـنده کـړه. چـرګه کلکـه د دروازې مخـې ته څوکـيداره ودرېـده. زه دنـنه ګـرمی سـخت تنګ کړم، خو څه مې کړي وی، چې بيرون راته مرګولاړ و. ما به چې دروازه لږه پرانيسته، چرګه به لکه د نهر ليوه په شان په حمله شوه، ژر به مې ور بېرته بند کړ. يو وخت چې لالو ماما کور ته راننوته، نو مې ورغږ کړ. هغه چې ولـيدم، په خندا يې راته وويل: ای بې غيرته! له چرګې نه ډارېږې؟ لالـو ماما هم کله د چرګې له ګوابښ سره نه و مخ شوی. چې څنګه يې چرګې ته په قهر کشې وويل، نو چرګې نامردي ونکړه او لالو ماما يـې د سـترګو په رپ کې د پوزې په سر وچيچه. چې ور مې خلاص کـړ، نـو ومې ليدل، چې د لالو ماما په مخ سرې وينې روانې دي او

چرګه بیا هم د حملې په حال کې ده. دوه پښې مې لرلې، څلور مې پور کړې او هې مې کړ. په نصیبونو ترې په تېښته بریالی شوم.
په ټوله کوڅه کې د لالو ماما چرګه مشهوره شوه. پیشو خو یې د دېوال پر سر هم نه پرېښوده. هغه دومره مشهوره شوه، چې چا به سپی او ځینو به هم لیوه ګڼله. نیا مې دې خدای وبښي، په ماشومتوب کې به یې په شیشکې وېرولم. ګومان مې کاوه چې چرګه نه، بلکې هماغه د نیا شیشکه مې ده. بله ورځ د جومات چنې د ځیرې پسې د انځري دوی کور ته نېغ ننوت او په لوړ تېره غږ یې نارې کړې: "وظیفه بیاري همرای قتغ، خیر بیبیني." د چنې چې ډکه کاسه په لاس او د وچې ډوډۍ توبره یې اوږې ته ځوړنده وه، د چرګې د حملې لاندې راغی او تر هغه چې یې ځان ترې خلاصاوه، نو د دوه درې ټونګو سره ترې بیا کاسه اوښتې او ډوډۍ ځپلې او خولۍ ترې پاتې او چرګه ورپسې وه. په همدې ډول د چرګې د شهرت ډنډوره جومات ته هم ورسېده. په جومات کې چا خندل، چا غاښونه چیچل، خو تر ټولو ملا صیب له ډېره قهره سور ځکه اوښتی و، چې د هغه په روزۍ کې یې لغته وهلې وه.
بله ورځ روغتیاپالې (واکسیناتورانې) د ماشومانو د واکسین لپاره ګرځېدلې، چې همدې کې د انځري دوی کور ته وردننه شوې. خو لږه شېبه نه وه تېره شوې، چې د چرګې اوازونه؛ ټاق- ټاق- ټاق پیل شول. له دې سره په کور کې هاها جوړه شوه. زړور هلکان د لالو ماما کور ته نږدې ودرېدل. هغوی چې ولیدل، نو روغتیاپالې له کوره په منډه راووتې او چرګه هم ورپسې وه. روغتیاپالو دا توره وکړه، چې په حیا کې یې ورنه ځانونه خلاص کړل، خو په همدې کې د چرګې شهرت روغتون ته هم ورسېد.
د لالو ماما به هره ورځ د انځري د مور سره په دې چرګه جګړه وه، چې حلاله یې کړئ، خو د انځري مور به په دې ټینګار کاوه، چې

دا مې راته مور له کلي نه رالېږلې ده، دا مې د مور د لاس نښه ده، یا به زه هم دا کور پرېږدم او یا به دا چرګه په همدې کور کې وي!!
لالـو ماما بـه هـره ورځ د چرګې پر سر له خپلې ښځې سره ناندرې وهلې، خو نتیجه یې نه ورکوله.
یوه ورځ مې د انځري د ګیلې په ځواب کې ورته وویل: تر څو چې دا چـرګه ستاسې په کور کې وي، زه نه شم درتلای. ته کولای شې، چې څنګه دا چرګه ورکه کړو، او یا یې ووژنو او یا یې هم وپلورو.
- که مو ووژله، مور به مې ټول کلي ته ښېرا هم کوي او جنګونه هم او اصلي دعوه به یې هم پر تا وي.
د اوړي غرمه وه، ټول خلک ویده وو، چرګه هم په کوڅه کې خپلې دروازې تـه نـږدې بچـو سـره ناسـته وه. انځری ماسپښین راغی، له کوره یې له ځان سره راوویستم. د چرګې چې په ما سترګې ولګېدې، دوه درې د زړه د اخلاصـه نارې یې ووهلې، چې ما ته پوره اخطار و، خـو مـوږ پـلان جـوړ کـړی و. پـه چرګې به کله کله د خوب نشه راتلـه، سـترګې به یې پټې کړې او کبرجنه به ناسته وه. د کوڅې له اخـوا مـو پرېښوده او د شا له لوري وربانديې ورو ورو راغلو. بل ځل چـې یـې بیا سترګې پټې شوې، خپل سرونه مو لاس کې ونیول او د سربازۍ میدان ته مو ورودانګل. د څادر دوه پیځکي انځري ونیول او دوه یـې مـا، پـه ډېر ډار او کراره کراره ورنږدې شو، بل ځل مو سترګو غړولو ته پرېښوده، یو دم مو راګېره کړه، څادر مو ورڅخه ښه تـاو کـړ، سـتونی مـو پـرې کلـک کړ او نېغه مو مخ په ښار یووړه. د چـرګې کومـه ښکه چې به رابښکاره شوه، موږ به له ډاره د څادر بل پیځکی پرې راتاو کړ.
- ماما موږ سره یوه چرګه ده خرڅوو یې!
- رالوڅه یې کړئ، لکه چې د غلا ده؟
- نه، نه ماما! دومره د غلا هم نه ده، خو لږه بدمعاشه ده.

مـا نه شئ غولولای، د غلا ده. چرگه ده څه پرانګ خو نه دی، بس په دېرش افغانۍ یې اخلم. (په خلاصولو یې پیل وکړ.)
ماما ګوره پام کوه، ډېره بدمعاشه ده!!
دکـاندار چې ډېر چرګان لیدلي و، نو په ریشخند او خندا یې دیرش افغانۍ راکړې او بېدرېغه یې چرګه راخلاصه کړه. چرګه چې تیاره د دکـاندار سـترګو تـه نږدې وه، په سترګو یې یوه ټونګه ورولګوله، له دې سـره یـې یـو "اخ" وکـړ، چـرګه یې پرېښوده او خپله سترګه یې ونیوله. چـرګه چې خوشې شوه، نو منډه یې کړه. چرګه مخکې، زه او انځری ورپسې شو. څه به مو سر خوړوم، چرګه مو ډېره وځغلوله. اخـر پـه یوه کور ننوته. د کور په مخ کې یو سپی پروت و، هغې موږ پسې رامـنډې کړې، خو موږ چې له برګې چرګې نه ځان خلاصوی شـو، نو سپی څه و؟! چرګه مو په هماغه کور کې پرېښوده. موږ بېرته خپلو کورونو ته راغلو او ویده شو. کله چې مازیګر شو، د انځري مور ډېـرې ښېراوې راته وکړې، خو شک یې راباندې ونه کړ. څو ورځې نـور هـم د انځـري دوی کـور ته په ډار تلم، خو بیا پوه شوم، چې چرګه مو له منځه وړې ده. زه او انځری به کله کله د هماغه کور شا تـه تیرېـدو، چـې چـرګه پکې وه. بله ورځ ګورو، چې چرګه د هغه ډېـران پر سر پرته ده، چې د هماغه کور شا ته جوړ و. موږ خپلو کې ډېـرې تبصـرې پرې وکړې، خو اخر دې نتیجې ته ورسېدو، چې دا سیاسي مرګدی. خامخا د کور نور حیوانات ورځخه تنګ شوي او په پای کې د ګډ پلان له مخې یې غوا ته رشوت منلی او دا دی د غوا د پښې لاندې یې ساه ورکړې.
انځـري وویـل: یاره! شی شی نه و، له ځانه یې فتح خان جوړ کړی و!!!

خیال پلو

د ژوند په ستړي سفر کې مې یوه ورځ زړه ډېر تنګ شو. سخت خپه وم. ځان ته مې وویل: هلکه اشنا ګله! ځه چې نن خو یو لرې ځای تـه لاړ شـو، چـې هلـته هیڅوک هم نه وي. له کلي نه د غره پلو ته لاړم. د کـلي او غـره تـر منځ یو وچ شګلن ډاګـو، چې یوه یوه دانه ونـه پکـې لـرې لـرې ولاړه وه. د یوې ونې لاندې ودرېدم. اسمان شـین و، خـو په یوه څنډه کې یې لږه وریځ ځلېده. ښایسته شیبه مې وریځې ته وکتل. وریځ لږه، خو تکه سپینه وه او د هوا څپو داسې په مخه کړې وه، لکه زه چې نېستی پسې اخیستی یم. له همدې وریځو نـه بـه کلـه اوښـان جوړېـدل، کلـه غـرونه او کله اسونه. زما هم په سترګو چتي کېناستل او د نر غوندې مې سترګې پټې کړې، لږه شیبه کـې د وریځو پر اس سور شوم. ښکته او پورته د خدای له نامه پرته: بـل هـیڅوک نه و. بس هماغه خلک به و، چې زما به خوښ وو. ای هـی! عجیبه اس و، چې هر ټوپ به یې واهه، ما به سر ټیټ کړ، چې پـه اسـمان ونـه لګېږم. یوه سپینه ځلنده توره مې هم راواخېسته. د خـپلې سـاتېرۍ لـپاره بـه مې ځانته دښمنان پیدا کول او بیا به مې سـرونه ورنـه پـرېکول. چې کله ستړی شوم، نو سمدستي سمندر ته لاړم. د سـمندر پـه ډېـرو او شـنو اوبـو کـې مـې ولمـبل او یـو څو سـرکونډالې مې هم پکې ووهلې. بیا را پورته شوم، خپل اس ته مې شـپیلی وواهه. اس مې هم لکه د (درمندر) اس یو دم حاضر شو. په اس سـور شـوم او خپل دفتر ته لاړم. هلته بېوزلان رایاد شول، چې خـپل سـخاوت وروښـیم. بېوزلان پیدا شول. چا به چې یوه غوښته،

ستا په اجازه، ما به لس ورکړې. چې لس به يې غوښتې، سل مې ورکولې. جيبونه مې هم لکه د بدرمنير ټوپک نه تشېدل. ښايسته ډېرو خوارانو ته مې ډېر څه ورکړل، چې راته د جنت دعا وکړي
بيا مې د غرمې ډوډۍ ته زړه وشو. له تاسې څه پرده، کاسې او غوري ګان ټول پخپله په هوا راروان وو او مخ ته را ته کېښودل شول. له ټولو کاسو نه په يوه يوه کپ کولو موړ شوم. شنه شنه چمنونه، غرونه په شنو ونو پټ او اسمان خپل شين رنګ لا پسې روښانه کړی وو، چې په دې کې ناڅاپه خپله معشوقه رايياده شوه او له دې سره مې بيا د رنګارنګ ګلونو په ټل کې بيا مخې ته ولاړه وه. له ډېره کبره مې پرې پټکې متکې وکړې. هغې را نه منډې کړې، خو ما هم خپل همت له لاسه ورنکړ او ورپسې مې منډې کړې. په لاره کې مې ډېر تيندکونه وخوړل، خو تر ډېرې سترړيا وروسته مې له لاسه ونيوله، زړه ته مې رانږدې کړه او بيا مې لاسونه ورنه چاپېر کړل. بې ادبي دې معاف وي، زړه په زړه، سينه په سينه او خوله په خوله... په دې کې ډېر وخت تېر شو، چې لږه نرۍ خندا مې واورېده. ما ته د خپلې معشوقې خندا معلومېده، چې يو ناڅاپه خندا زياته شوه. له سترګو مې چتي والوتل او چې سترګې مې خلاصې کړې، نو مې وليدل، چې د خپل کور د مخې د بېرې د ونې نه مې لاسونه چاپېر کړي او خلک راپورې خاندي. هسې خپلو کې يوو، چې ځان ته ځير شوم، ګورم چې په وينو لبت پېت، سترې ستومانه، له تاسې به يې څه پټوم، لوڅ لپړ، چې نه مې په پښو څه شته او نه په تن. خوله، سترګې، وېښتان هر څه له شګو ډک. دوه پښې مې څلور کړې، ترپ مې وهل او همداسې لوڅ لغړ مې په هماغه دښته واچول. هلته چې خپل زوړ ځای ته ورسيدم، خپلې څپلۍ مې يو له

بلـه پـه لـرې واټن کې وموندې، خو د جامو په پیدا کېدو بریالی نه شـوم، البته یـوه یوه ریښکی یې په یوه یوه ځانګه کې لیدل کېده. نـور نـه پوهېږم، خو زه چې څومره فکر کوم، لکه چې د خیرات په ځـای مـې د خـپلو جامو ټوټې شکولې او خپل سخاوت مې پر ځای کاوه. د ډوډۍ په ځای مې د دښتې شګې او تیږې خولې ته اچولې دي. د سمندر پـه ځـای مـې پـه شګو کې سرکونډالې وهلې دي، خـپلې مې تیندکونو کې له پښو وتلې دي او د معشوقې په ځای مې شـکر دی، د کـور په لور منډې وهلې دي. د خپل کور د مخې ونه راتـه معشـوقه ښکـاره شـوېده. د معشوقې خالداره کمیس د بېرې د ونې اغزي وو... چې کله مې ځان ته وکتل په ډېر بد حال وم. لرې نظـر رانغله. تر ناوخته پورې په همدې ونو کې لغړ لغړ پټېدم. تر څو ښـه شـپه شـوه. د شـپې ناوخـته مخ پر کور روان شوم. په وېره وېره راتـلم، چـې څـوک مـې ونـه ګـوري. د خـپل کور دروازې ته چې راورسـېدم، خپل ساتلې سپې ونه پېژندم. ډېرې حملې یې راباندې وکـړې، د کـوم بـد ځناور خیال یې راباندې کړی و. ما چې هر څه غږونـه ورتـه کـول، خو د سپې یقین ځکه نه راته، چې په دې جامه یـې کلـه نـه وم لـیدلی. اخر پټ په دېوال کور ته واوښتم. د اوښتو درب مې پلار واورېد او سره له ټوپکه راپاڅېد. څو غږونه یې وکړل: څـوک یـې؟ تا ته وایم؟ ما ځان غلی کړ، خو اخر یې په ټوپک کې را ته مردکی تېر کړ او په زوره یې غږ کړ: هلکه څوک یې، ومې ویشتې! ما نور څنګه ځان غلی کړی وی، ورغږ مې کړ: پلار جانه، زه یم، ستا زوی یم. لـنډه دا چـې یـوه سـات خـیالي ژونـد را څخـه ټوله حیا واخیسته او نږدې و، چې ژوند یې هم راڅخه اخیستی وی!!!

بې ځایه ټوکې

په اووم ټولګي کې وم، چې کله به مې د همزولو ښایسته ښایسته جامې ولیدې، نو بدن به مې ورته میږي میږي کېده. په همدې علت مې د خیاطۍ سره مینه ډېرېده. په ډېره مینه او شوق د یوه ګنډونکي سره د کسب د زده کړې لپاره کېناستم. نیمه ورځ به مې د ګنډنې په زده کړه ښوونځي کې درس وایه او نیمه ورځ به مې د ګنډنې په زده کړه تیروله. استاذ مې ډېر زړه سواندی سړی و. د مسلمانۍ ټول خویونه پکې و، خو لمونځ یې نه کاوه. هغه بدبخته ګونګ هم و، خو زما زړه ورنه تر اوسه خوشاله دی. هر وخت مې زړه ورته دعا غواړي، خو هغه ته د دعا په چل نه پوهېږم. نوم یې تاراچند و، خو په ګونګي مشهور و. څه مې ویل او چېرته لاړم! خیر! د اخترونو په ورځو کې به زموږ کار ډېر زیات و، نه به مو د شپې ارام درلود او نه د ورځې. د جلال اباد ښار د چرګانو کوڅه کې د یو سرای دننه څلور پنځه د خیاطۍ دوکانونه وو، چې په هغو کې یو زموږ هم و. د شپې چې به مو کله کار کاوه، نو استاذان به مو خپلو کورونو ته لاړل او موږ غوندې لوګه بوګه په پاتې وو. د سرای دروازه به مو د شپې له نهو بجو نه د ځان پسې وتړله او نور به مو چې هر څه کول، کار مو خپل و. د هغه وخت خیاطي خو تاسې هم کولای شئ، لنډ کمیس، نیم کز پلنې پایڅې، د چیلۍ د غوږونو غوندې اوږد پلن چپه ګردن، په سپین کمیس کې توره او په توره کې سپینه ټوټه، د هر رنګ کمیس لپاره سپینې توکمې او سپین تار، د سکنلو لار داسې کړه وړه لکه میږی چې یې په رنګ ککړ کړی او په سپین کاغذ خوشی کړی وي. خبره را نه ډېره لرې لاړه، د یوې شپې کېسه مې کوله، چې کله به

مو د سرای دروازه د ځان پسې وتړله، کار به مو هم کاوه او خپلو کې به مو ټوکې ټکالې هم کولې. زموږ په سرای کې هغه کراچۍ ګانې درول کېدې. چې خلکو به پرې د ورځې خپلو بچو ته روزې ګټله. موږ چې به کله ډېر بې خوبه او یا ښه ستړي شو، نو د ارام لپاره به مو په همدې کراچیو کې د خپلې ځوانۍ له خوبه خوند اخیست.

د اختر د ګرمو کارونو شپې وې، چې د شپې یوه بجه مولاداد راغی او ما ته یې غږ کړ، راشه، کنه! ته هم وایې، چې زه یم! ګوره چې څنګه لوبه مې در ته جوړه کړېده! زه هم له کار نه پاڅېدم او ور سره لاړم. څه ګورم، چې یعقوب په کراچۍ کې ویده دی او مولاداد د الفي [1] بوتل ټول ورته په شونډو تش کړی او د یعقوب خوارکي خوله ټوله بنده وه. خدای شته او مرګ به راشي، زه په داسې کارونو سخت خوابدی کېږم، نو مولاداد ته په قهر شوم، چې هلکه ټوکه هم حد لري! مولاداد په ټوکه کې په هیڅ شي هم دریغ نه کاوه. څوک به چې ویده و، ده به پرې اوبه شیندلې، له لرې نه به یې په ویدو هلکانو لوټې او تیږې ورولې، همدارنګه به یې نسوار ورته په پوزه کې اچول. کله چې یعقوب له خوبه راویښ شو، نو چې وېې لیدل، خوله یې کلکه نښتې وه. ډېر کوښښ یې وکړ، چې د سر او لاسونو په خوځولو څه ووایي، خو هیڅوک پرې پوه نه شول، سره له دې چې موږ ته نوې خبره ځکه نه وه، چې د ګونګي له برکته په اشارو ښه پوهېدو. خپله مو ډېره خواري وکړه، چې خوله یې خلاصه شي، خو څه نتیجه یې ور نه کړه. اخر مو د عامې روغتیا روغتون ته ورساوه. په روغتون کې ډاکترانو په ډېر تکلیف او تکتیک د یعقوب

(۱) یو ډول کلک سرښښ دي.

خو-له خلاصه کړه. هغه ټولو ته ډېر په قهر و او په ما یې هم شک راته. خو ما د هغه د قهر له کبله تر څلورو ورځو پورې هغه ته څه ونه ویل. چې کله یې قهر سوړ شو، مولاداد مې ورته په ګوته کړ، خو خبره سړه شوې وه. اوس لکه چې اصلي خبرې ته راورسېدم. څو ورځې نورې هم تېرې شوې، لوی اختر ته څلور پنځه ورځې پاتې وې، چې یوه شپه دوه بجې یعقوب غلی غلی راغی او په اشاره یې زه له دوکان نه ولاړ کړم. ګورم چې مولاداد په یوې داسې کراچۍ کې ویده دی، چې ټایرونه یې د بایسکل دي او ډېر ورو مزل کوي. یعقوب له مانه مرسته وغوښته، چې څه باید وکړو؟ زه هم له هغې شپې راهیسې چې ویده وم او دوه درې ځله یې راباندې د لرې نه اوبه اچولې او له خوبه یې راویښ کړی وم، په قار وم. ما هم نامردې ونه کړه، یعقوب ته مې وویل: هله بچیش! د سرای دروازه خلاصه کړه! یعقوب هم د فشنګ غوندې مخ په دروازه لاړ او پرته له ځنډه یې خلاصه کړه او ما د مولاداد کراچۍ بهر روانه کړه. لکه چې مې له سرای نه وویست، د بزازۍ کوڅې ته مې وګرځاوه. په ډېره کرارۍ مو کراچۍ د لوی سرک پر لور روانه کړه. د بزازۍ جومات ته چې نزدې شو، مولاداد په ډډه واوښت. ژر مو کراچۍ ودروله او ټیټ کېناستو. زړه مو داسې و، چې همدلته یې پرېږدو، خو تنده مو نه ماتېده. بیا راپورته شو او کراچۍ مو روانه کړه. مولاداد داسې ویده و، لکه لرې له اوسه چې مړ وي. ورو ورو مو هغه لوی سرک ته ورسواوه، چې د تالاشۍ او مخابراتو چوکونه سره نښلوي.

بیا مې د تالاشۍ د څلور لاري په لور د کراچۍ مخ تاو کړ، ځکه چې دا سرک مخ زوړی و. کراچۍ مو ورو ورو تېزه کړه، چې ښه ګړندۍ شوه، زه او یعقوب بېرته سرای ته راغلو او د سرای دروازه مو په

ځـان پسې وتړله. د شپې درې نیمې بجې وې، چې د سرای دروازه وټکېـده. د دروازې له شـا نـه مـو کنځلې او بدرد واورېدل. بیا یې دروازه وټسـوله او هماغـه سـپکې سـپورې یـې وویلې. له هلکانو نه څـوک ورغلل، دروازه یې پرانیسته. کله چې مولاداد سره له کراچۍ سـرای تـه رانـنووت، نـو دوه عسـکر هـم ورسـره وو او خـندل یې. مـولاداد سـترګې پټـې کـړې او خوله یې خلاصه کړې وه او څه یې چـې په دې نامراده خوله راتلل، ویل یې. یوه ښه شېبه مو ورته غوږ کېښـود، بـیا مـو دلاسا کړ. هغه کېسه شروع کړه: ډېر په لوړ اواز مې درېش واورېد، خو ځان مې ونه خوځاوه. فکر مې وکړ، چې مولاداد بـنده خـوب ویـنې. دویم ځـل مـې اواز پـه جګـه او ورسـره مې د کلاشـنکوف د مرمۍ د تېرولو غږ هم ورسره غبرګـواورېد. هې، ورونو څـه ګـورم، چې د چوک تر څنګ د نسوارو غرفې ته څېرمه یو عسکر زنګـون کېش دی او نښه یې راسا ما ته نېولې او ګوته په ماشه دی. یو ټوپ مې وکړ، ځان مې له کراچې نه وغورځاوه او په ډېر وېرېدلي غـږ مې ورته وویل: عسکر جانه ! بې ګناه یم، پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه! عسکر ته دې خدای اوس هم جنتونه ورکړي،که نه، نه به زه وم او نـه مـولاداد. بـیا یې نو دوه ساعته را نه پلټنه وکړه. بیا یې کـراچې را تـه په مخ کړه او د ټوپک په زور یې راباندې را وسته او ویې ویل: حتماً به خیرات کوئ! ځکه نږدې و، چې ډز مې درباندې کړی وی.

یعقـوب د مـولاداد پـنځلس افغانـی پوروړی و. چې سبا شو، په هغو پېسو مو پولۍ واخېستې او د مولاداد د سر خیرات مو وخوړ.

PROPERTY OF ACKU 11708

کوڅه ډب سپی

د هغه کلي خلک هم څه عجیبه غوندې وو. د هر چا نوم به یې لنډ کړ او یو "کی" به یې وریسې وتاړه. دې کار به دومره ستونزې پیدا کړې، چې بیا به څوک د نامه په مانا نه پوهیده. د بېلګې په توګه، لکه: عنایت الرحمن " نېتوکی"، شمس الرحمن؛ " شمسوکی"، احسان الحق؛ " سانی" او داسې نور... د هر نوم لپاره به لکه چې دوی سره چې خاص ګرامر وي، یو خاص لقب غوره کېده.

هو، خبره مې په نېتوکي کې وه. د نېتوکي د خپل ژوند ځانګړې موخه د سپو روزنه وه، تل به یې سپي ساتل او چې چېرته به یې سپی ولید، نو په هره بیه چې به وُ، هغه به یې خپل کړ او چې لږ به جوړ شو، نو د جنګ میدان ته به یې راوست. که به یې سپی مغلوب او یا غالب شو، د ده پرې څه پروا نه وه، یوازې جنګ یې خوښ و او د جنګ په دوران کې به داسې خوشاله و، لکه د پنځه دېرش کلن ځوان چې د لومړني واده ورځ وي. که ماشومانو به په کومه کوڅه کې نوی سپی ولید، رامنډې به یې کړې؛ نېتوکی کاکا، نېتوکی کاکا! په هغه بله کوڅه کې یو نوی سپی دی!! په نېتوکي به دا زېری د لاتري د ټکټ له انعام نه هم ښه لګېده او چې کله به یې ولید، نو داسې به خوشاله و، لکه د چا کشر ورور چې د امین له زندان نه ژوندی راوتی وي. ټول بدن باندې یې د سپو د غاښونو ټپونه داسې ښکارېده، لکه د غوربند عسکر.

ډېر به مو نه په عذابوم، یوه ورځ نېتوکي له بازار نه د کور لپاره غوښه راوړله، چې ګل دې په مخ په کوڅه کې یې یو زوړ کوڅه ډب

پمن سپی ولید، چې وېښتان یې داسې و، لکه په انقلاب کې د کونړ د غنمو پټې، نرۍ ملا لکه د ژمي ټانټه، وچې پښې لکه د اورلګید تیلي، وړه بې وېښتانو ککره، لکه د منګوټي کونه، غوڅ غوږونه لکه پیرکي، شلېدلې اوږده خوله لکه د عسکر د پتلون جب، وړې سترګې لکه د تور بورا ککره، چینګې داړې لکه د کوکنارو د پټې ګوډاګې، اوږده توره ژبه لکه د پسه توری، کچل مزل لکه د عارف کاکا د ټانګې اس، نرۍ لغړه لکۍ لکه زوړ اورلړونی، زوړند څټ لکه څلور ورځني تور بانجان او ... نېټوګي چې سپی ولید، نو بېواکه یې له خولې دا غږ ووت؛ اوهو، سورنال! او له دې سره یې د سورنال نه غېږه تاوه کړه. غوښه یې هېره شوه او پر ځمکه یې د سورنال مخې ته کېښوده. تر څو چې نېټوګی د سپي په غېږ مړېده، سپي ځان په غوښه موړ کړی و. د نېټوګي په غوښه چرت ختې نه شو او د سورنال سره په کرار کرار او ناز ناز مخ په کور داسې روان شو، لکه د زرنګار په پارک کې چې څوک چکر وهي. د سپي سره یو ځای کور ته راورسېد.

مور چې یې له غوښې خبره شوه، ډېر څه یې وویل، خو " اوبه له ورخه تېرې وې." مازیګر چې شو، نېټوګي صابون، شامپو او ځان پاکی له ځان سره راواخېستل او لکه زلمی چې څوک د واده په ورځ لمبا ته بیایي، د سورنال سره یو ځای لویې ویالې ته لاړ. لنډه دا چې د سپي داسې روزنه یې کوله لکه څنګه چې یې یو بډای پلار د نازولي زوی کوي. سورنال تازه شو. ورو ورو ببر او سمدم سپی ور څخه جوړ شو. سورنال لومړۍ حمله په کور کې په یوه کورنې چرګوړي وکړه او داسې یې نوش جان کړ، لکه ترخه ملی، خو د کور وګړو د ډبرو او کوتکونو داسې حال پرې راجوړ کړ، لکه

پر کښت چې ږلی اوري. سورنال له ډېرې ترورتیا نه کوڅې ته ودانګل، خو نیتوګی ورته نصیبونو کوڅه کې مخې ته راووست او بېرته یې په داسې عذر او دلاسا کور ته راروان کړی و، لکه مروره ښځه چې سړی کور ته راولي. د کور خلکو نېتوګي ته ډېر بدرد وویل، خو نېتوګی نازولی و، په ژړا به شو، خبره یې منل کېده. خو ورځې وروسته د نېتوګي دوی کور ته میلمانه راغلل. د میلمنو د یوه ماشوم له پښې څخه سورنال داسې کپ وکړ، لکه د کتې له وړې چې وشي. په سورنال بیا کور سور تنور شو او دا ځل په خپله مخه روان شو. نېتوګی چې کله کور ته راغی او له کېسې نه خبر شو، پښې یې د سپي پسې لوڅې کړې. دوه درې کوڅې شا ته یې سورنال په وینو ککړ پیدا کړ او نېتوګی ورته داسې په ژړا شو لکه له چپرهار نه یې چې د چا زوی مړ راوړی وی. سورنال یې بیا راووست او جوړ یې کړ، خو دا ځل یې سم له واره جنګ ته روان کړ. کله چې یې د جنګ میدان ته راوست،نو نېتوګي سورنال بل سپي ته مخامخ کاوه، خو سورنال داسې په شا راته، لکه د دویم ځل لپاره چې څوک روسان افغانستان ته راولي. بیا یې له هغه نه د کوچني سپي سره مخ کړ، خو سورنال به د ګلو ماما د خره غوندې په شا راته. له هغه نه هم وړوکی سپی ورته پیدا شو، خو سورنال قسم کړی و، چې غپ راباندې ونه کړې. اخر نېتوګي چغه کړه؛ دظالم زویه! کته درنه نه غواړم، خو یو ځل جنګ وکړه! چا ته وایې؟! سپي پر له پسې ریورس ګیر لګاوه. په میدان کې یو سړی ولاړ و، نېتوګي ته یې وویل: وروره! دا کوم سورنال چې نن له تا سره دی، دا ځوانیمرګ ما له وړوکتوبه ښه وساته، ما ویل سم سپی به ترې جوړ شي. خو چې لږ رالوی شو او ورته ځیر شوم، نو چې پیشو به ورته سترګې برګې او

داړې چینګې کړې، داسې به ډاربده، لکه انږور چې له بدې خوابې ډاربږي. بله ورځ خبر شوم، چې دده پلار هم چندان د کار کالی نه و، بس له کوره مې وشاړه. ډېره موده وروسته مې پمن ولید، خوخپه پرې نه شوم. اوس تا بیا جوړ کړی، تنې ته یې وګوره! زړه مې غواړي، چې ځان په دې وخورم او بې غیرتی ته یې ګوره! زړه مې غواړي، چې په موږکانو یې وخورم. چې په ځوانی کې څه تورزن نه و، نو اوس به څه (...) وکړي؟ نېتوګي له دې سره د سورنال رسی خوشې کړه. سپی په خپله مخه لاړ او نېتوګی ځوړند څټ مخ پر کور روان شو. لږه موده وروسته سورنال بیا هماغسې پمن او کوڅه ډب شو او خپل عالي صفات یې بېرته خپل کړل. نېتوګي چې بیا ولید، نو یې ورته وویل: ستا د دې غیرت سره همدا ژوند جوړیږي!!!

نصیب

زه هغه نصیب نه یادوم، چې خلک یې بخت، تقدیر یا قسمت بولي، بلکې نصیب فلم یادوم. یو وخت د یوې اړتیا لپاره کابل ته لاړم. د کابل په قلاچه کې مې د یو خپلوان کور و. کله چې د هغوی کور ته لاړم، هلته نورو میلمنو هم تشریف درلود. دوی خپلو کې خبرې کولې؛ په اقبال سینما کې ډېر ښه فلم لګېدلی، نوم یې نصیب دی، ډېر اوچت فلم دی. د دوی په خبرو مې ځان پټ په پټه ملا کړ، پاڅېدم او کارته نو ته مې ځان ورساوه. هغوی په خپلو خبرو کې ویلي و، چې سینما د سرک پر غاړه ده، ما هم پوښتنه د ځان کمی ګانه، بې پوښتنې روغ په موټر کې کېناستم. د سرک دواړو څنډو ته به مې په ځیر کاته، چې د سینما سره کښته شم. خو همدې کې یو وخت ملي بس اخري تم ځای ته ورسېد او په موټر کې یوازې موټروان، کلېنر او زه پاتې شو. کلېنر دې خیر یوسي، په ما یې غږ کړ: ای بیادر! تو کجا میري، اخری ایستګاست تا نمی شي؟ ما هم نور ځنډ ونه کړ، د موټر نه اوچته راکوز شوم. نوره نو راڅخه لاره ورکه شوه، بېرته په هغه موټر کې کېناستم،چې د ښار پر لوري روان و. دا ځل مې له جرئت څخه کار واخیست او د نر غوندې مې کلینر ته وویل: ای وروره! ما به اقبال ننداري سره کوز کړې! کلېنر دسر په خوځولو پوه کړم، چې ښه. ښار ته چې رانږدې شو، موټر ودرېد. کلېنر خپل لاس اوږد او ګوته یې نېغه کړه او ویې ویل: امو روبرو دوکانست. زه چې دوکان ته نږدې شوم، په دوکان یې لیکلي و: " اقبال درملتون " پوه شوم چې د کلېنر غوږونو د ننداري پر ځای

درملتون اوریدلی. ډېره غوسه راغله، دا ځل مې زړورتیا له لومړي ځل نه زیاته شوه، د یوه لاروي نه مې په لوړ غږ وپوښتل، وطندار! امې سینما اقبال د کوجاس؟ هغه پوه شو چې نابلد یم، ویې ویل: ده یک ټکسي بالا شو، سي روپیه خرابات کو، د سینما اقبال تایت میکنه! ما هم د همدې وطندار په خوله عمل وکړ او په دېرش افغانیو د اقبال سینما مخ کې کوز شوم. چې کله مې سینما ولیده، نو پوه شوم، چې دوه ځلې ورنه تېر راتېر شوی وم. د سینما مخې ته یو اوږد یو ستوی لیک ولاړ و، خو ما د لاین پروا ونه کړه، په ننوتو شوم، چې دې کې کوم نامراده له څټه کلک کړم او په غضب یې وویل: کور هستي، دلاین استاد شو. ما هم خپلې تنې منې سمې کړې، تر ټولو شا ته ودرېدم. دا لیکه ورو ورو روانه وه، خو ډېر " رند بچه کابل" را نه مخکې شول او ټکټونه یې واخېستل. ډېر وخت وروسته ما ته هم نوبت راغی او ټکټ مې تر لاسه کړ. په ډېره کلانکاری سینما ته ورننوتم، چې ګوندې ما هم توره وکړه او ټکټ مې واخېست. دننه یو دوکان ګوتې و، څه پکې نه ښکارېدل، خو هر یو به راغی، یو څو افغانی به یې ورکړې او څه به یې واخېستل. زه هم ورته ودرېدم، ور ته ومې ویل: ماما! ما ته څه راکړه!

چې بتمت؟

هر څه چې راکوی، څه خاورې ایرې خو به وي!

اوغان چې کار داری که توره بتم!

څه چې نورو ته ورکوې، ما ته یې هم راکړه!

هغه هم لاس ټیټ کړ، یو پاکټ کې څو دانې نخود و، د پنځو افغانیو په بدل کې یې راکړل. په سینما ورننوتم، چې دروازه چې راغږ کړ: اوغان مره تکتیته! څو چې مې له جبه ټکټ را ایسته، د

دروازه چې ډېرې خبرې مې وزغملې، خو دروازه یې را ته خلاصه کړه. څه ګورم، چې تپه تیاره ده. داسې تورتم دی، چې سترګې په سترګو نه ښکاري. درې ګامه لا نه وم تللی، چې د چا په پښه مې پښه کېښوده. هغه راغږ کړ، بدبخت راه ره سی کو! ژر مې پښه جیګه کړه. همدلته چې لږ ودرېدم، له شا نه یو بل راغږ کړ: اوغان پیش برو، چوکې خالي پیدا میشه! ځان سره مې وویل: دا ټول ما څنګه پېژني، چا سره چې خبرې و نه کړم، هم پوهېږي، چې پښتون دی. لنډه دا چې ورو ورو مې په سترګو رڼا کېده او مخکې تلم. چې ښه مخکې لاړم، هلته څو څوکۍ تشې وې، په یوې څوکۍ نېغ او نشه کېناستم. له شا نه بیا چا راغږ کړ: اوغان کولایته پایین کو! دلته پوه شوم، چې د خولۍ له برکته راته ټول اوغان وایي، نو خولۍ مې راکښته کړه. زړه مې و، چې جب کې یې واچوم، خو چې ومې کتل، جب نشته. کوم ځوانیمرګ را څخه غوڅ کړی و او د ښوونځي کارت، تذکره، پیسې، څه چې وو، ټول یې وړي وو!! د فلم تر نیمایي پورې سینما کې ناست وم، خو په دې سودا کې، چې څه به کیږي، څه را وشو، فلم ته به څه ځیر شوی وی! تفریح ته نږدې وخت کې یو تن چې لاسې څراغ یې په لاس کې و، راورسېد او پوښتنه یې راڅخه وکړه: مره تکتیته! ما په ډېره عاجزۍ او ژړغوني اواز ورته وویل: کوم چا راڅخه جب غوڅ کړی، ټکټ، پیسې، هر څه یې را نه وړي، خپل جب مې هم وروښود. هغه په ډېره بې رحمۍ له ګرېوانه ونیولم او مخ په بېرون راښکلو کې یې را ته وویل: اوغان غول! مې خایي، خوده رند، بچی کابل جور کنی؟ الی مه به تو رندی ره نشان میتم! د تره زو! تر بېرونه پورې مې سخته سودا وه، خو "بلا وه برکت یې نه و." بېرون یې یو ټکان راکړ، نور خدای خیر

کړ. زه لا په هماغه بد حال کې وم، چې یو خیر غوښتونکی راغی، ویل یې: او ـ ـخي! سخي جان کمک ات کنه، یک روپه په رضا خداوند بته، خدا در روز بد درویت استاد کنه! زه چې یې د سوال په کولو هم چندان پوه نه شوم، خو ورته مې وویل: خیرات خور صیبه! خیر دی، دا لاس کې چې دې دوه افغانۍ دي، دا هم ما ته راکړه! ته هم خیر خیرات لرې، ثواب به دې وشي! هغه را ته کوز پاس وکتل او په قهر یې را ته وویل: برو برو بیادر! راس میګه، افغانه که سلام دادي، سه تنګه تاوان دادي، برو رندي ته نه کو! ځان ته مې وویل، اشنا ګله! څوک خو در ته پیسې نه درکوي، نو راځه، په دې خپلو پښو قلاچې ته روان شه. لنډه دا چې په مزل پلی شوم. د لارې په اوږدو کې یو ضابط او دوه عسکر مخې ته راغلل، راغږ یې کړ: اسناد ته مره! ځان سره مې غلي وویل، راشه که تودېږې!

- چې ګفتي؟

ما ورته خپل جب وښود او ټوله کیسه مې ورته تېره کړه.

- اوغان جان! هر چې رندي که کني، یکبار تا ماموریت میبرم ات!

د یو سوړ اسویلي په کولو ور سره روان شوم. د ماموریت سرمامور ته یې ورمخکې کړم. هغه ته مې هم ننواتې پیل کړې، چې خیر دی مامور صیب، ته خو را سره مرسته وکړه! خو هغه را ته په ترووسپېږمو وویل: تو چې مه میشي، که مړه میګي، کمک کو؟ په کرار مې ورته وویل: زه یو انسان یم، بیا مسلمان یم، بیا افغان یم، په دې درې صفاتو کې که ته هر صفت منی، هغه زما او ستا خپلوي ده. اخر رندۍ کار وکړ، زموږ ښوونځي ته یې ټیلیفون وکړ. زموږ مدیر صاحب ته دې خدای پاک سره د تاسو جنتونه ورکړي، زما یې ډېر صفت ورته وکړ. هغه و، چې مامور اجازه راکړه. چې څنګه له ماموریت نه

راووتـم، راساً د جلال اباد هډې ته راغلم. یو موټروان ته مې وویل: مـا بـه د ځانه سره جلال اباد ته یوسئ، خو پیسې به جلال اباد کې درکـوم. سمه ده، خو نر جلال اباده به کلینري هم کوې! ما ورسره په خوشالۍ ومنله. موټر لمبر کې ولاړ و، خو په ډېرو ننواتو به مو پکې مسافر ځکه کېناوه، چې دومره زوړ و لکه په کوم ترکان چې یې جوړ کړی وي. یو وخت مو له خیره سره په سفر پیلوکړ. تر ماهیپره پورې خـو سـم راغلو، خو له هغه ځایه وروسته نور ښاد نه شوم. سمه نیمه لاره مـې ورسـره پـه منډه منډه په پښو ووهله. کله به مې ټېر ته تیږه ایښـوده او کله به مې اشارې کولې، کله به مې اوبه اچولې، څه سر به مو خوړوم، د یوه فعال کلینر ټولې دندې مې تر سره کړې. تر څو چـې موټـر درونټې ته رارسېده، زه یې د پېژندو له کوره ایستلی وم. درونټـه کـې مـې یـو دوکـاندار ملګـری و، هغـه تـه لاړم. سلام مې ورواچـاوه، خـو ویې نه پېژندم او را ته یې وویل: څه دې پکار دي؟ چـې ښـه را تـه ځـیر شو، ویې پېژندم، پیسې مې ترې واخېستې او د ډرېـور له پـوره مې ځان خلاص کړ. ډرېور را ته وویل: راخېژه، چې ځـو له خـیره! ما خپل دواړه غوږونه ونیول او ورته مې وویل: توبه، توبه، توبه. او س را نه پوښتنه وکړه، چې نصیب فلم خو دې نیمایي لیدلی و، څه و پکې؟ قسم که در ته ټکی ووایم او یا مې په یاد وي!!!

نشه

نشې هم بلا ډولونه لري. د بېلګې په ډول، د ځوانۍ نشه، د دولت نشه، د طاقت نشه، د مینې نشه او نورې لکه د شرابو، چرسو، بنګو او هېروینو نشه. د نشو له دغه اوږده کتاره چې ما لیدلې، د ځوانۍ نشه ده، چې په همدې نشه کې یوه ورځ په هغه باغ کې ناست وم، چې ما سره اجاره و. د باغ دروازه وټکېده او چې ومې لیدل، نو اودل، چمتو او رامداد درې واړه د دروازې تر شا ولاړ وو. له روغبړ څخه وروسته مې د اودلي په لاس کې لږه سودا ولیده، پوښتنه مې ترې وکړه، څنګه مو یاد کړم؟

- غواړو چې د ځوانۍ نشه له یوې بلې نشې سره غبرګه کړو.
- پوه نه شوم؟
- د بنګو اوبه کاږو، څښو یې.
- هغه څنګه؟

هغوی سمدلاسې هر څه راواخیستل او په جوړولو یې پیل وکړ: لږې شیدې، لږه بوره، بادام، ممیز، لنډه دا چې ډېر قوي قوي خواړه یې راټول کړل او یو څو دانې بنګ یې هم ورواچول ما چې د دې نشې په برخه کې هېڅ معلومات نه لرل، ځانته مې ډډیل اشنا جانه! څومره قوي خواړه دي، دا څو دانې بنګ به څه وکړي! راځه، وریا وېتامینونه واخله! له جوړېدو نه مخکې مې خولې ورنه اوبه پرېښودې او چې څنګه جوړه شوه، دوه دوه ګیلاسه مو نوش جان کړل. بیا نو له یو بل نه خبر نه شو، هر سړی په خپله مخه لاړ زه چې له باغ نه کله د کور پر لور راووتم، نو په یو شواخون کور ته

راورسېدم. ډېر زيات وږی شوی وم. کور کې مې ډوډۍ وغوښته. زما وړې خور چې په کوڅه کې يې خوټکنکه کړې وه، وريجې يې پخې کړې وې. ديګ مې کټ ته نږدې ايښی و. ما هم نامردي ونه کړه. تر څو چې يې نور څه را ته راوړل، په همدې وريجو مې راباندې کړل. يو خوند پکې و، لکه ....څه ووايم، خلک د قتلمو ډېر صفت کوي. خو ما نه دي ليدلي، بس همدا قتلمې يې وبوله. شپه تېره شوه، سهار مې بيا هماغه وريجې راوغوښتې. ټولو په تعجب او موسکا را ته کتل او کاسه يې را ته مخکې کېښوده. چې کپ مې وکړ، د غاښ لاندې مې يوه تيږه راغله او کړس يې وکړ. وريجې لوګي وهلې وې، مالګه پکې دومره ډېره چې پوندې يې سېځلې او له وريجو نه تيږې پکې ډېرې وې. څه به مو سر خوږوم، وريجې دومره په بده ورځ ککړې او بې خونده وې، چې چا ورڅخه د ثواب لپاره هم کپ نه کاوه. ټولو راپورې وخندل او شکمن شول. خو زه په کلانکارۍ راپاڅېدم او بيا باغ ته لاړم. څه شېبه وروسته اودلي دوی راغلل. ما غوښتل، چې خپله کيسه ور ته تېره کړم، خو چمتو راباندې مخکې شو او خپله کيسه يې داسې پيل کړه: چمتو! له دې ځايه چې روان شوم، په لاره کې مې کاکا مخې ته راغی. را ته يې وويل: پلار ته دې ووايه، چې سبا موږ کره راشي. کور ته چې ورسېدم او خپلې کوټې ته چې ننوتم، کوټه را ته دومره اوږده ښکارېده، لکه سپين غر سينما. يو دم د خپل کاکا خبره رايادې شوه. هو! پلار مې راسره نږدې ناست و، خو ډېر لرې ښکارېده. په دومره لوړ اواز مې ورته غږ کړ، لکه څوک چې ژرنده کې ناست وي. دادا! هغه په کراره وويل، څه دي؟

- کاکا ويل، سبا ته دې موږ کره راشي.

- سمه ده.

څه لږه شیبه تېره نه وه، چې د خپل تره سوال ځواب بیا را په یاد شو. بیا مې په رومبي شکل پوښتنه ترې وکړه: هغه وویل، پوه شوم. څه وخت تېر نه و، چې بیا رایاد شو، چې هلکه! د کاکا خبره دې پلار ته نه کوې؟ بیا مې په چغه ورغږ کړ: دادا! په قهر یې را ته وویل: څه خبره ده، بیا؟

- کاکا مې ویل. نور نو راباندې پلار پوه شو، چې خبره ګلجانۍ ده. خبرو ته یې پرېښودم او سهار ورنه په پټه راوتښتېدم.

رامداد وویل: له دې ځایه چې روان شوم، هیڅ مې مزل نه شو کولای. لاره کې یو پول و. زه وېرېدم، چې له پله څخه ویالې ته ونه غورځېږم. چې ومې کتل په بایسکل سور یو سړی پرې راتېر شو. ما هغه لاروی ودراوه، ورته مې وویل: ماما! په دې پول څنګه راپورې وتې؟

- د نر غوندې!

- ما هم د نر غوندې پورې باسه!

هغه و، چې له لاسه یې ونیولم او له پول څخه یې د نر غوندې پورې ویستم. څو ګامه چې نور لاړم، سخت ستړی شوم. یوه لویه ویاله چې له ختو ډکه وه، ما ته د موټر د سیټ غوندې ښکاره شوه. سم پکې کېناستم او حرکت مې ورکړ. په خوله مې شروع وکړه: هنګ هنګ، ډررررر، ټیډیټ، هنګ ډررررر رنګ ډررر...

کوم مسلمان را باندې پوه شو، له لاس نه یې ونیولم او له ویالې نه یې راجیګ کړم.

بیا کور ته په ختو لیت پیت روان شوم. زه مخکې او د ماشومانو ډله راپسې ورو ورو د مظاهرې په شکل زیاتېږې. هغه زموږ د کوڅې

ډېران خو مو لیدلی؟ هغې ته چې ورسېدم، د خپلې کوڅې بلد سپي ولـیدم، ویې نه پېژندم او راغپ یې کړ. د سپي د غپا اواز مې داسې غوږونـو ته راته، لکه د ډول اواز. زه خو هم تاسې ته معلوم یم، چې نامـرده نـه یم، دلته مې هم نامردي ونه کړه او په ګډا مې پیل وکړ. ښـه ونخېدم. د کلي ماشومان راته راټول وو او را پورې یې خندل، خـو زه په ځان نه پوهېدم. په دې کې مې له کومې خوا پلار راغی، دلاسـه یې ونیولم، څوڅپړې یې په دا مخ مخ ووهلم او کور ته یې بوتلم. سهار چې له خوبه راپاڅېدم، پټې تپالا راوتښتېدم.

اودلی چـې چـندان وجـود نـه لـري، سـم لکه د غز پېری داسـې و، غږ یې کړ، چې ما ته غوږ شئ؛ زه چې د خپل کور کوڅې تـه ورسـېدم،زموږ کور د کوڅې اخر سر ته دی، مخامخ دوه غبرګې دروازې دي، چې یوه یې زموږ ده او بله یې د نورو خلکو ده. خپله دروازې مـې پرېښوده او په پردي کور ننوتم. د هغې کور زړې ښځې (غټـې ابـی) را تـه وویل: ایله په بیله اودله بچی، چې دې خوا دې راپېښـه وکـړه! ما چې څنګه ولیدل، چې کور مې غلط کړی دی، نه پېښـې مـې تېښته شروع کړه. دروازې ته د اوبو پیپ غځېدلی و، پښه مې پکې ونښته او یو داسې درز مې وخوړ، چې ماغزه مې په سر کې او کولمـې مـې پـه خټـه کې پاته شوې. ژر بېرته را پورته شوم او د خـپل کـور پـه دروازه پـه وارخطـایي ننوتم. هلته زموږ په کور کې نـابلده میـلمانه ناسـت وو. مـا چـې پردی ښځه ولیده، بیا مې بېرته خـپله مخه راوګرځوله، چې ګوندې دا هم پردی کور دی. په منډه راووتـم. پـلار مـې چـې زه ولـیدلم، ژر راپسـې راووت او غږ یې کړ: ودرېـږه، چېـرته ځـې؟ له ځانـه سره مې ویل، پردی سړی دی، لکه چـې مخ دې تور کړي، نوره مې هم پښه پونده کړه، بلې کوڅې ته

لاړم، چې د هغې کوڅې جوړښت هم زموږ د کوڅې په شان دی. هلته مخامخ په بل کور ننوتم. هې ورونو! د کور خاوند را ته قسمت په کور کې نږدې مخې ته راوست، پرته له کومې سستۍ یې له ګرېوانه ونیولم، نه انړسې نه پاڼړسې د مخ نه یې را ته شرنګ جیګ کړ. زه چې ډېر ستړی شوی وم، نور مې ځان نه شو اداره کولای، ګل دې په مخ، بې ادبي دې معاف وي کانګې راغلې. د ټینګولو توان مې نه درلود او خوځېدو ته د کور څښتن نه پرېښودم. ما هم د سر نه تر پښو پورې لوند خیشت کړ. هغه چې کله په ځان شو، زه یې پرېښودم. ما بیا مخ په بهر منډه کړه. زړه مې و، چې په دا بل کور ننوځم. هغه به زموږ خپل وي، خو چې له دروازې څخه ووتم، پلار مې د دروازې شا ته رارسېدلی و. ژر یې له ګرېوانه ونیولم او په وهلو ټکولو یې مخ په کور روان کړم. د شپې زموږ په کور کې ډېره ګڼه ګوڼه وه، خو په ما چا غږ ونه کړ او دا دی سهار د وخته په تېښته کې بریالی شوم. دا وه زموږ د یو سات نشه، چې نږدې ټول له کورونو نه شړل شوي وو!!!

گنډې

د تېر وخت نه نه یم خبر، چې د ښار او بازار خلکو خپله روزي څنګه لاس ته راوړه، خو په انقلاب کې خلک د خپلو نسونو د ډکولو لپاره یو کار هم پرېښنود. تجارت په څو ډوله دی، خو اوس چې زما سر او پښې د ګنډې والاو سره دي، نو چېرته چې ناست یم. د خپلو ګنډې والاو نه داسې کیسې هم اورم؛ لکه پرون چې یوه ګنډیمارد ښځه زما دوکان ته راغله. ښځې سره یوه سپینه ټوټه او یو دانه د ماشومانو چوشک هم و. ما ورته د مزدورۍ لپاره شل ګزه ټوټه ورکړه او هغې په خپل مهارت پخپله راوړې سپینه ټوټه کې داسې راونغاړله. لکه ماشوم او چوشک یې لاس کې ونیو. ما ورته وویل: دا څنګه؟

- که چا را نه پوښتنه وکړه، چې دا څه دي، ورته وایم دا مې زوی دی.

- اوړي کې به څه کوې؟

- تر اوړي خدای مهربانه دی.

یا یو هلک چې څو ځله ور ته کستم په روزۍ کې لغته وهلی وه، یوه ورځ یې له ډېرې خواشینۍ څخه د صابون یوه تشه پېټۍ راواخیسته او ګل دې په مخ ډېران ته لاړ. د ډېران څه مرداري چې وه، هغه یې ټوله په پېټۍ کې واچوله. په یوه سپین کاغذ یې ډېرې کنځلې هم ولیکلې. دا کاغذ یې هم ورواچاوه او د پېټۍ خوله یې بنده کړه. نورد نو یې پېټۍ په سایکل وتړله او مخ په ښار روان شو. ویل یې، په دې ورځ دوه ځلې ښار ته لاړم او بېرته راغلم. خو نه مې کستم مخې ته راته او نه مستم. اخر مې زړه تنګ شو او د شربت پلورونکي سره

ودرېدم. دې کې ناڅاپه د کستم موټر راغی او د سترګو د رپ سره پولیسو را څخه پټې خپل موټر ته جیګه کړه او ما ته یې وویل: لکه د سپي راپسې دفتر ته راشه. ما هم ورو د ځان سره وویل: لکه د خره ډېران بوی کړه!

پاچا ګل چې له موږ نه څو جوړه جامې زیاتې زړې کړې دې یو دم یې راټوپ کړ او ویې ویل: دا څه ګندې دې: ګندې خو موږ کولې، چې د جلال اباد څخه به تورخم ته راغلو، په هر حرامتوب چې به و، یوه مړی ډوډی به مو خپلو بچو ته ګټله. نکل یې پیل کړ، چې یوه ورځ هیڅ کار نه و، ډېر خپه ناست وم، چې یو پګړی والا هندو مې خوا ته راغی. هغه زه پېژندم، چې ګندې چلوم. نو غلی مې تر څنګ کېناست. اول خو ډېر بد راباندې ولګېد. ورو غوندې یې را ته وویل: مسلمان جانه! ما به دې تورخم وانه ړوې؟ دوه سوه روپۍ به درکړم د دې خبرې په اورېدو مې غوږونه رانیغ شول. مخ مې ورته راواړاوه: هغه د بدن سره ورمه یې هم له منځه لاړه. پوښتنه مې ترې وکړه: په مزې به څنګه اوړو؟

- نه پوهېږم!

ما تر لږې چوپتیا وروسته ورته وویل: که په بوجۍ کې دې واچوم؟ هغه هم لږ غلی شو. بیا یې وویل: ټیک ده. لږې مو له مخې هندو مې سره د پګړۍ مګړۍ په بوجۍ کې واچاوه او د بوجۍ خوله مې وتړله او د نر غوندې مې په شا کړ. زه د مزې ټولو خاصه دارو او ملېشو پېژندم. چې هر یو ته به نږدې شوم، چا ته به مې لس، چا ته پنځه روپۍ ورکولې. کله چې اخرني ملېشه ته ورسېدم، د هغه یو لرګی په لاس کې و. لس روپۍ مې هم ورکړې. خو هغه د پادوان زوی پخپل لرګي بوجۍ ته دب ورکړ. هې ورورد! هندو هندو و. نو. یو توپ یې

وکړ. د ده د ټوپ سره زما له لاس نه بوجۍ پرېوته. بوجۍ په ځمکه پرته ود او هندو پکې اتڼ شروع کړ. ما ځان تېښتې ته جوړ کړ، خو د ټوپک په زور یې راوګرځولم. د تورخم لویه دروازه وتړل شوه. څه خاصه دار او ملېشه د ټوپکونو سره د بوجۍ ځنګ سره ودرېدل. ما ته یوه ټوپک ونیو او ویې ویل: هله شابه بوجۍ کولاو کړه! ما ته هم خندا راتله او هم غوسه. خو چې کله مې بوجۍ خلاصه کړه، هندو چې په بوجۍ کې ډېر ټوپونه وهلي و، په خورو ورو زلفو راپاڅېد. بې ادبي دې معاف وي، سم لکه ښځه چې له برستنې راپاڅېږي. له بوجۍ راووت. هندو ته یې کوتک ونیو او په وهلو ټکولو یې بېرته افغانستان ته واړاوه، خو زه یې هم په خیا کې پرې نښودم؛ داسې یې ودېولم. لکه د پکتیا والو د اتڼ ډول. چې ښه یې له شرومبو نه پرهیز کړم، را ته یې وویل: څنګه شوې، خوند یې درکړ؟ ور ته ومې ویل: " چې ګټې خورې، مولي به زغمې."

پایوازان

یوه ورځ ما ته هم لرې له اوسه د روغتون اړتیا پېښه شوه او خپل ناروغ مې روغتون ته ورساوه او بستر مې کړ. څنګه چې ناروغ بستر شو، د روغتون څوکیدار له درېیم پوړ څخه د لاندې کوزېدو حکم وکړ. موږ ډېر کسان وو، ډېر بحث مو ورسره وکړ، خو هغه ته دنده ورکړل شوې وه، چې د ناروغانو پالونکي روغتون کې پرېږدي. د څوکیدار یو نازک لرګی په لاس کې و. لا یې موږ ته د خپل لاس لرګی هماغسې خوځاوه، چې دا غږ یې ورسره غبرګ کړ: لار پرېږدئ، سید ته شئ! موږ په ډېرې چټکتیا لار پرېښوده. ګومان مو کاوه، چې ګوندې سرطبیب راغی. په توندۍ سره د پایوازانو په منځ کې لار جوړه شوه. چې شا ته مو وکتل، ګورو چې د نیانځکو او پوکنیو پلورونکی دی او نېغ په خلاصه شوې لار راواوښت. دهلېز ته ننوت او دننه په روغتون کې یې خپل تجارت پیل کړ. په ډېر قهر مې څوکیدار ته وویل: ضرورت د هغه دی او که زموږ، چې هغه پرېږدې او موږ نه پرېږدې؟

- بایي جانه! خبره د ضرور او بې ضروره نه ده. اډر داسې دی، چې د ناروغانو سړي هډو پرېږدې. ډېر حیران شوم، خو نور به مې څه ویلي وی؟ د یوې پوښتنې لپاره د طبیبانو کوټې ته روان وم زه لا ورسېدلی نه وم، چې خدای دې لري، له هغې کوټې نه یو سپین ږیری ماما راووت او په یوه پلاستیک کې یې څو د نسوارو پاکټونه اچولي وو او داغږونه یې کول: نسوار د باړې.. تازه نسوار د باړې ...! زه چې کله د کوټې په دروازه ننوتم، څوکیدار را ته په سینه لاس کېښوده؛

- وروره! اجازه نشته.

- زما ورسره ضروري کار دی.
- ډاکټران په یو کار بوخت دي.
- نو دا د نسوارو والا دې ولې پرېښود، چې لاړ شي؟
زه او څوکیدار په همدې خبرو کې وو، چې یو ناڅاپه مې د (چیشت) اواز واورېد. څو مې چې ورکتل، نور اوازونه ورپسې شول. د کېږو پالش. چمکداره پالش او راسا د طبیبانو کوټې ته د ننوتو په حال کې وو. غوسه راغله، لاس مې ورواچاوه او د بوټانو رنګونکی مې له څټ نه ونیو، بېرته مې په شا راښکه. ورته ومې ویل، چې زه نه یم تللی، ته هم را څخه نه شې تللای. څوکیدار په توندۍ د هغه ګرېوان زما دلاس نه خلاص کړ او په غضب یې پوښتنه وکړه: ماجره! بدمعاشي به نه کړې، ته روند یې، که بینا؟
- تا ته پته نشته، چې زه د ناروغانو پایوازان نه پرېږدم او دا پالشي دی. پوه شوې. که پوه دې کړم؟ بیا مې د مسواکونو یو پلورونکی ملګری کړ او چې کله به مې دننه څه کار پیدا کېده، لومړی به مې هغه نه مسواکونه واخېستل او په همدې بانه به دننه شوم.
یوه ورځ د روغتون پلورنځي ته لاړم، چې یوه پیاله چای وڅښم. پلورونکي را ته د ېوې پیالې چای بیه پنځه روپۍ ابلاغ کړه:
- یوه پیاله چای، پنځه روپۍ؟
- مړه تاسوم عجیب خلک یې! ډاکټران درته د چار پانج هزار دوایي لیکي. هدو تپوس یې نه کوئ، راوړئ یې او زمونږ په پانج روپو مو خانه تاخانه کیږي که سګې وسکه. که نه رنګ دې ورکوه! څه مې کړي وئ. نور دوکانونه لرې وو او زه سخت ستړی وم. د هغه د دې خبرې سره مې هم چای وڅښه. بیا راپورته شوم، چې دننه لاړ شم. خو ملګری مسواک پلورونکی مې پیدا نه کړ او همداسې چا پرېښودم دا خل یې نېغ د انتظار ځای ته ولېږلم. د انتظار ځای

دومره لرې و، چې څوکیدار به یو یا دوه ځلې د چا پسې لاړ، نو دریم ځل تګ تـه به یې ملا غوټه ماته وه. یو ځلې را ته یوې ښځې وویل، چـې څوکـیدار تـه ووایم، چې د هغې پایواز راخبر کړي. نو څو خپل نـاروغ ته درمل راوړي. ما چې څوکیدار ته وویل، هغه سترګې باغکې (توشـلې) او غوږونه زلوبی کړل، چې نه څه اورم او نه څه وینم. ما بیا ورغـږ کـړ: تـا تـه وایم څوکیدار ماما! هغه درملو ته ضرورت لري. یاره تاسـو خو زه سخت نارامه کړی یم، ته ورشه کنه. دوه کسانو ته ما اواز کړ، یو کس چې ته راخبر کړې، اسمان به دربانديې راپرېوځي؟ څه به مـو سـر خوږوم، ټوله خبره په پایوزانو وه. د انتظار ځای ته لاړم. ومې لـیدل، چې څوک مسواکونه خرڅوي. څوک لاسوچوني. څوک پولی، خـو پـه یو ځای کې خلک راټول ولاړ وو. زه هم ورغلم. فکر مې وکړ، چې مداري هم تشریف راوړی. خو چې ومې کتل. یو بودا سړی چې نـاروغ یـې زما د ناروغ سره په کوټه کې له مرګ او ژوند په دوه لارې کـې پـروت دی، د غمونو او اندېښنو د باران لاندې غلی ناست دی ومې پوښتل. څه چل دی؟ یوه سړي را ته وویل: وروره! د دغه ماما نه چـا نهه زره او پنځویشت روپۍ غلا کړي. یوه بل وویل: همدا د پولیو او پـالش والا دي. چـې ښکـارد خـرڅول کوي او څوک چې له ځانه ناخبره وي. غلاوې هم ورڅخه کوي. بل په زوره او لوړ اواز وویل: مه یې پرېږدئ. غله دي. له همدې اواز سره پلورونکي چا داسې ځغلول او چا هغسې. ما له ځانه سره وویل: اشناکله! دوی ته به هم ویل شوي وي. چې د ناروغانو پایوازان مه پرېږدی

د لیوانو پاچاهي

یو وخت د یو ځنګل پاچا (زمری) چې د نورو پاچاهانو نه یې ځانګړی خوی درلود، د نورو پاچاهانو امرونه به یې پخپل ځنګل کې نه منل. د خپلې خبرې د پلې کولو لپاره یې همېشه خپل پوره توان استعمالاوه. په همدې د نورو پاچاهانو هم نه خوښېده او د خپل قلمرو د حیواناتو ورته ځکه په زړه پولی ولاړې وې، چې په هره معامله کې به ډېر سخت دریځه او د قاطع فیصلې ځښتن و. یو وخت ګیدړه هم د ده د ځارنې د تهدید لاندې راغله، خو ګیدړې سره نور د زغم توان نه و، په همدې علت یې د نورو ځنګلونو پاچاهانو ته پنا یووړه. هغوی خپلو کې ډېرې مشورې وکړې، خو بیا هم د نوموړي پاچا نه ډارېدل او د حملې زړورتیا یې پرې نه شوه کولای. خو ګیدړې د خپلې چالاکۍ په دام کې ښکېل کړل. ګیدړه د نورو پاچاهانو په مشوره خپل ځنګل ته راغله او ټول حیوانات یې د پاچا په مقابل کې راولاړ کړل او بېرته یې د حیواناتو د ناخوښۍ نه هغه پاچاهان خبر کړل. هماغه و، چې دواړه پاچاهان راغلل او د دوی په پاچاهۍ یې یرغل وکړ. پاچا ونیول شو او ګیدړې پرې خپلې سترګې سرې کړې. تر دې وروسته دواړو پاچاهانو د خپل دهشت اچولو په خاطر په ګیدړې ډېر قیدونه او شرطونه کېښودل او ګیدړې د مجبورې ورځې نه هر څه ومنل، خو ډېر وخت لا نه و تېر، چې ګیدړې ته د خپل پاچا ارمان ورغی. لږ وخت په ګډوډۍ تېر شو، بیا نو د ځنګل ځناور سره راټول شول او د پاچاهۍ لپاره یې ترتیبات ونیول. لیوه خو پرته له اوټ موټه د شاهۍ پر تخت کېناست. د لیوه د تقرر نه وروسته ټول حیوانات وپوهېدل، چې هر یو دې ځان ته چوکۍ ونیسي.

یـږ: زه او زمـا تـول یـږان به د ځنګل د ټولو خوراکي موادو څخه په کلکه دفاع کوو.
بـیزو: د ځـنګل د ونـو ساتنه په موږ شوه. د هوا مرغان به را نه هم په ونو کې ونه ګرځي.
بـزه: قضـايي چـارې يې زموږ موږ به په پوره عدل او انصاف قضاوت کوو.
خر: زه خو يوازې هم يم او هوښيار هم. بس د پاچا مشاوري يې زما. ګـيدړه چې د پاچاهۍ په خيال کې وه او تخت ورڅخه لېوه ونيو، نو په يوه کونج کې غلې ناسته وه.
پاچـا چـې پـر تخـت کېناسـت، نـو مغزو يې پرمختيا وکړه، ويې ويل: لومړی به زما تقرير ته يو د بل غوږونه ونيسئ.
د ټولو غټو او وړو ځناورو په اجازه!
زه خپلې ارزښتناکې خبرې ستاسې په بېځايه وخت نه ضايع کوم او نه غـواړم، چې ستاسې ناکاره غوږونه دې زما غوره ويناوې خپلو د بوسو نه ډکو ککرو ته ورسوئ.
درنو او سپکو ملګرو!
زما د کوپړۍ اجنډا دا ده:
لومـړی: د ټولـو نـه مخکـې تاسې بايد په شريکه پر هغه پړانګ حمله وکـړئ او مـړ يـې کـړئ. چـې د غره په لرې سمڅه کې ناخبره ويده پروت دی. زه هم درسره تلم، خو هسې نه چې د هغه بېچاره له ډاره زړه وچـوي او بلـه دا چـې د پاچـا تلل د هر کوچني کار پسې ښه نه وي.
دويم: هـر ځـناور د خپل نيول شوي مقام په ساتلو کې پوره مسئوليت لـري او د وېښته هومره صلاحيت کې بايد زما څخه مشوره واخلي. او که ما څه کول، هېڅوک د " ولې " حق نه لري.

درېيم: د ځان پر ځای زما د زور او قوت ستاينه کوئ. ځکه چې که د يو ځنګل پاچا قوي معرفي شي، نور ځناور ورباندې زړور نه شي ورتلای او که ـې پر تاسو حمله وکړه، هم به ځان غلی کوئ، ځکه چې پر تاسې خپلې سترګې سرې نه کړم، نور ځناور خو به مې دانګې وانګې کړي.

څلورم: تاسې تول د خپلې ګېدړې غم پخپله وکړئ، خو هو: زما خوراک به نه هېروئ او په خپلو کې به هره ورځ له يو جنس څخه ما ته راوړئ. يو دا چې پر کوم تخت زه ناست يم، دا په تاسې باندې حق لري او بله دا چې زه به مو تر هغه غوښې خورم چې تر څو يې خوند ښه وي او چې کله خراب شو، نو زه به پوه شم، چې تاسې حرامیان شوي ياست. بيا به مو خامخا اخوا دېخوا کړم. په پای کې تاسې خپلې دندې سنبال کړئ او زه به د شاهي پر هغه تخت يو څو ساته ارام وکړم، چې ما ته د دې تخت اوسېدونکی زما تر دې عمره زورور ښکارېده. هسې خو زه هم زورور يم، خو خبر نه وم. د ګېدړې دې کور اباد وي او خدای دې يې زما له شر نه وساتي، چې زما فکر يې دې حد ته راوړساوه. په دې کې يې په ګېدړې سترګې ولګېدې او پوښتنه يې وکړه: ستا وظيفه څه شی شوه؟

- پلرنۍ.
- کومه؟
- استخباراتي چارې.
- يانې شيطانت او رذالت؟
: د همدې شيطانت او رذالت په زور خو مې په دې تخت کېنولې!
: هو. کور دې ودان. خو زما په پاچايي کې څه (...) ونه خورې!
: نه جنابه! د اول ځل په خوراک تر اوسه شخوند وهم. نه تېرېږي او نه يې تو کولای شم.

لـه دې وروسـته هر یو خپل کار پسې لاړ او یو یوه غټه تیږه د هغـې سـمڅې مخـې تـه راوکولوـله، چـې پړانګ پکې ویده پروت و. پړانـګ بـندي شو. د کیدړې چې مخ تور شو، له درباره تیتې سترګې ووته او لاړه د پړانګ د سمڅې په سر یې د اوبو ویاله راتیره کړه، چې پړانـګ له تـندې مـړ نـه شـي. کلـه نا کله به یې یوه بوټی غوښه هم ورکوله.

یـوه ورځ یـو د ګـډ وړوکـی بچـی نـوش جان کړ. ګډ خپله عریضه بزې ته وړاندې کړه:

بزه: ته هم د ګډ بچی وخوره!

: تر تا جار سم. زه غوښه نه شم خوړای.

: چـې داسـې ده، نـو زه همدومره پوهېدم. ته به مشرې اوزې ته لاړ شې. ګډ لوړ مقام ته لاړ او خپل غوښتنلیک یې ورته وړاندې کړ.

اوزه: یو ښکرونه لرې؟

: ما خو ونه لیدل.

: نـو بیا په دې ښکرونو څه کوې، چې هسې دې پرې خپل سر دروند کـړی او جـنګ پـرې نـه شې کولای. امر یې وکړ، چې په ګډ ښکرونه مـات کـړئ. د ګډ ښکرونه یې مات کړل او بیا یې زیاته کړه: ته مشرې اوزې تـه لاړ شـه، چې پرېکړه وکړي. زه خو همدومره پوهېدم. ګډ د هغـې پـه مشوره لوړ مقام ته لاړ او په کبسه یې پوه کړ. وزې تر لږ فکره وروسته ورته وویل: اوس خو دې ښکرونه هم نشته او سم پلن هم یې، لکه یو. لاړ شه او په ډله کې یې شریک شه او د نر غوندې یې یو بچی د پښې لاندې کړه.

وزې ګلې! د ږیرې بلا دې په لکۍ شه. زه په کوم زړه د هغوی څنګ ته ورشم؟

- چې دومره بې غیرته یې، ستا غوږونه هم د غوڅېدو دي. امر یې وکړ. ګډ چې تر څو ځان خوځاوه، غوږونه یې نه وو. په وینو سورپور د پاچا دربار ته ننوت. پاچا ځان تېښتې ته برابر کړ، خو مشاور ورغږ کړ: شاه صاحب! ګډ دی. پاچا بېرته کېناست او له ګډ نه یې وپوښتل، څه خبره ده؟

- باچا ګله! ما یو وړوکی بچی ستا د خوراک لپاره ساتلی و، یږ راغی په ما یې حمله وکړه. ما ورڅخه ځان په تېښته خلاص کړ، خو هغه ستا برخه یانې زما بچی یې وخوړ. پاچا وویل: زما خو ستا په دې مسئله سر خلاص نه شو!

مشاور: ځنګل پنا! یږ د ګډ بچی نه، ستا برخه خوړلې ده. او هغه په دې، چې دا ګډ ورڅخه تښتېدلی دی. که دا ورڅخه نه وی تښتېدلی، نو یږ به ګډ خوړلی و. د هغه د لاسه ستا برخه خواره شوې ده. ټول عمر مشرانو د کشرانو لپاره قربانی ورکړې دي. اوس دې دا ګډ مهرباني وکړي او دا قرباني دې ورکړي، چې د خپل بچي پر ځای دې ځان دربانديې نوش جان کړي. لیوه سستي ونه کړه او ګډ یې څو کپه کړ.

بله ورځ یو کارغه له هوا نه راکښته شو او په ځمکه کېناست، چې د بیزو سترګې پرې ولګېدې. یو ناڅاپه یې کارغه ونیو او د دروغو دعوه یې پرې وکړه، چې تا زموږ انګور خوړلي دي.

- نه صاحبه! زه پر ځمکه ناست وم. بیزو وپوهېدله، چې دا خو رابانديې دروغ ثابتوي، نو راځه ژبه یې پرې کړه. کارغه ته یې وویل: ته دې ژبه راوباسه، چې انګور پکې شته، که نه؟ کارغه چې ژبه راوکښله، بیزو په یو خرپ ورڅخه پرې کړه او بې ژبې کارغه یې لور مقام ته حاضر کړ. مشر ته یې وویل: دې کارغه انګور خوړلي، اوس منکر دی. کارغه چې ژبه یې نه وه، مشر یې د خپلو وزرونو په

خوځولو پوه کړ، چې زه پر ځمکه ناست وم او کور (انګور) مې نه دي خوړلي.

بیزو: زه د دې په اشارو پوه شوم. دا پچپلو وزرونو تا دروغجنه ګڼي، نو د ده د دې تومت په بدل کې چې پر تا یې وایي، باید وزرونه ترې غوڅ شي. هغه و، چې وزرونه هم ترې غوڅ شول او بیا یې امر وکړ، چې لوړ مقام ته یې یوسئ. بې ژبې او بې وزرو کارغه یې لوړ مقام ته حاضر کړ. کارغه بیا هم لوړ مقام ته سر او پښې خوځولې.

لوړ مقام: دا کارغه د سر او پښو په خوځولو دا ښیي، چې موږ ظالمان یوو او حال دا چې موږ خو له ده سره هیڅ ظلم نه دی کړی. زما پرېکړه دا ده، چې ده ته باید یو ځل ظلم وروښودل شي، چې د ظلم او رحم توپیر ورښکاره شي. له ده څخه سر او پښې دواړه پرې کړئ. له کارغه نه سر اوپښې غوڅ شول او بیا یې امر وکړ، چې پاچا ته یې یوسئ. بې سره، بې پښو او بې وزرو کارغه یې پاچا ته حاضر کړ او ویې ویل: پاچا سلامت! دې کارغه ستا له تاک نه انګور خواړه، ما ونیو، بیا منکر شو. دا عمل مو ورسره وکړ. او س مې تاته راوړی، چې څه پرې کوئ، ته پوهېږی او کار دې.

مشاور: د ځنګل واکدار صاحب! کارغه ستا انګور خوړلي او بیزو کارغه په دې حال کړی. پرېکړه به وزه ګله وکړي!

اوزه: بیزوګلې! ته به را ته پاتې کارغه وخورې او پاچا به تا وخوري، چې حساب برابر شي. بیزو په دې خبره له درباره وتښتېده او ټولو بیزوګانو ته یې وویل، چې نور د اوزې قضاوت نه منو. جنګ اعلان شو. چېرته چې بیزوګانې او اوزې وې، خپلو کې ونښتې. د ځنګل په هر کونج کې اخ و ډب پیل شو.

یو پاچا ته وویل: ښکار تمام صیب! د اوزې دا پریکړه غلطه وه. لیوه په ډېر دهشت ورته وویل: ته هغه فیصله غلطه ګڼې، چې زما په ګټه وي.

ستر کې به درباندې وباسم، که بیا دې داسې ویلي و. پاچا لېوانو ته امر وکړ: چېرته چې بیزوګانې وینئ، ویې خورئ. لېوان هم په اخ و ډب پسې ووتل. یو په زوړند څټ له دربار نه راووت. ګیدړه مخې ته ورغله. ګیدړې ته یې وویل: ګوره خورې! زمری تا له منځه یووړ او پړانګ ما، ځکه مو دا حال شو.

ګیدړه: ته په خپل کار خپه یې؟

- له حده زیات

- راحه چې پړانګ راخلاص کړو!

- هغه به مړ وي.

- نه ما ژوندی ساتلی دی.

هغه وچې د پړانګ له سمځې نه یو ببرته تیره لرې کړه او پړانګ په غړمبېدو راووت. لېوانو چې پړانګ ولید. نو یې شا ته ونه کتل. ځنګل یې پرېښود. جنګ سور شو. ټولو حیواناتو پړانګ ته خپلې تېرې ګیلې وکړې. خو پړانګ ورته وویل: څوک چې لېوان خپل حاکمان کوي، نو دا به یې حال وي.

بڅنګان که برابرامد

هغه زما ملګری و، خو د روپو په ګټلو کې تر ډېرو ماهر و. سره له دې چې د انقلاب نښې نښانې پکې پوره معلومېدې. یوه سترګه یې پوچه وه او بلې یې د عملیات له برکته څه لیدل، خو عینکې به یې د پوزې په سر ایښې وې. د لاس ګوتې یې هم دوه درې پاتې وې. هغه له اره پارسیوان و، خو ما سره یې له اول نه پښتو ویله او ما ورسره پارسي. دا هم د خدای یو قدرت دی، چې څو ځلې دې چا سره په یوه ژبه خبرې وکړې، بیا به په ګرانه په بله ژبه ورسره مخاطب کېږې. نوم مې یاد نه دی. خو هغه به هر چا ته لالا ویل. نو ځکه موږ هم لالا باله.

یوه ورځ زه او لالا کابل ته د یو کار پسې لاړو. د کابل په شهرارا مارکیټ کې څو کسان سره ناست وو؛ غوري مو کولې. چې خبره په بیستم بول راغله. په ناستو کسانو کې یو څارنوال و، چې د بیسمبول ډیر صفت یې وکړ. ما هم ورسره سر خوځاوه او کله نه کله به مې لکه د شرومبو مچ په خبرو کې هم ورودانګل. چې د لالا نور په ځان زور ونه رسېد، هغه نو په شرومبو کې سمې غوپې ووهلې. د لالا یوې خولې سل ځوابولې. ټولو به دده له خبرو امان غوښت. چا به ورته روسي رادیو ویله او چا د بي بي سي د خبرونو څانګه. لالا غږ کړ: یره څارنوال صیب! بیسمبول ښه شی دی. خو چې زیږ وي او سم د وارد یې ستا بچی لوی شه. نکل شروع کړ. ما په یو بوټ کې یو دانه پیدا کلی وی. خو شین وی. ما وشکولی او کور ته مې وللی. په غنم کې مې ومندلی. څارنوال ورو له ځان سره وویل: خیر. الله د لالا د شکو په بندونو پروا نه وه او هماغسې یې بیان جاري وو: دوه ورځې

وروسته مې ولیدلې، شین وی. بیا مې په جوارو کې ومندلې. درې ورځې پس مې بیا ولیدلې چې شین وې. بیا مې په بوسو کې ومندلې. لا نور به یې څه ویل، چې د څارنوال زړه راتنګ شو او خبره یې پرې غوڅه کړه، چې وه وروره! زما ګنا څه ده، چې کله مې شکوې، کله مې غنمو کې مندې، کله بوسو او کله جوارو کې. بس خندا جوړه شوه، خبره ترې ترغې شوه.

څه لږ سات پس د ښار پر لور دواړه روان شو. په لاره کې یو ملګری مخې ته ورغی. هغه ته یې وویل: لالا ته چېرته یې، تا کې خو بیخې غیب دی! ښه مو وخندل، خو ملګري یې څه ونه ویل. موټر کې چې کېناستو، موږ سره خوا ته سیټ کې دوه پښتانه هلکان ناست و، چې خپلو کې یې د لمانځه په برخه کې خبرې کولې؛ لمونځ د جنت کونجي ده، د قبر اوله پوښتنه د لمانځه ده او ... د لالا بریکونه بیا وشکېدل او د هلکانو په خبرو کې یې خپل ځان شریک کړ او ورته ویې ویل: موږ خدای د خپل عبادت لپاره پیدا کړې ده. هلکانو چې د لالا خبره واورېده، ورپسې پخ یې وهل او ښه یې وخندل. لنډه دا چې داسې ډېرې خبرې یې وکړې، چې خلکو ته یې په پښتو کې د کنځلو مانا لرله. زه مجبور وم، چې ورسره ګرځېدم، خو اخر مې ورغږ کړ:

- لالا!

- څه دي؟

- نوره به ما سره پښتو نه وایې.

- ولې؟

- ستا پښتو نه زده، کنځلې کوې.

- نو ته هم ما سره پارسي مه وایه.

- ولې؟
- بس شرط دی.
اګر چې زمونږ فارسي څه عجیبه غوندې ده.
یـوه ورځ زمـا یو ملګری د لرګي سره په قهر کوڅې ته راووت. ما ورنه وپوښتل: چرا بچی اودر؟
- ګوم کو، ای سګ ام خوده بیخي بچې سګ جوړ کدس.
- الې ګپ چي اس؟
- مـه د روی ایلـوی سـر تغر شیشته بودوم، نان میخوردم، سګ نامراد امـد نـان مرا بوی کد. قاری مه امد پالویم امې سوته مانده بود، امي ره پوشـتیش ګرفـتوم او خیستم. سګ ډبل ورداشت، د سر کوته جیګ شد. مه به رای لنډ درویش برامدوم، خیله ډباندومیش. سګ ترور شد. سـیده سری دسترخان جیګ شد، دجرغات ام لغت کد، کاسی سوفال ام چـپه کـد، چي سری ته درد بیتوم کولې قتغاره لغت کد، دیګه مام ګفتم:" بدنګان، که برابرامد. "

پـه لاره لاره کـې مو سره تړون وکړ،چې که ما پاړسي وویله، تـه بـه مـا یوه څپېړه وهې، که تا پښتو وویله، زه به تا یوه څپېړه وهم. پـرېکړه وشـوه، د کابل د ښار د منظرو په ننداره وو. د متروپول هوټل څـنګ تـه چـې ورسېدو؛ لالا پاس وکتل او په خبرو یې پیل وکړ، ویې ویـل: یـره لالا، ښه ځای خو یې جول ... کړي ته مې پرېښود او لرې مـو له مخـه یـوه حیدري څپېړه مې په مخ ورکړه او په خندا کې زه هـم پـوه نه شوم. په پاړسي مې ورته وویل: مه توره نه ګفته بودم، که پشـتو... نګـو تـه هغـه هـم پرېښودم، الا الله یې کړل او یوه ناڅاپي تـتوړکه یـې پـه دې مـخ راکړه او دا یې هم وویل: بدنګان که برابر امـد. هغه خو تیار دردېدلی و، هیڅ له خدای څخه ونه وېرېده او زړه

یې راباندې ونه دردېده. که لږ دروغ ورسره یو ځای کړم، نو تر اوسه یې مخ سوځي او غوږونه مې انګازې کوي. زړه مې و، چې ورځمه خپه شم. بیا مې ځان ته وویل: چې بل وهې، ولې تا سره مخ نشته؟

دانا

هغه له اندازې نه زیات هوښیار و؛ یانې له عقل نه یې پښه اړولې وه او ډېر پرې نازېده. خپل اصلي نوم یې په خلکو په زور هېر کړی و او پرته له دانا نه یې بل نوم پر ځان نه پېرزو کېده. ده به ځان ته دانا ویل او خلکو هم په دانا پېژنده. چې کله به په لاپو شاپو راغی: نو ویل به یې بچیم! دانا ترافیک است. دانا ره چطور ګپ میتي؟ دانا به دخپلې پوهې زیاته نظاره په لغاتونو کې ښوده. که به یې لغت بې ځایه هم و، چرت یې پرې نه خرابېده. که به په کومه مسئله نه پوهېده او ورځخه به شروع شوه؛ نو ډېر څه به یې ورسره له ځانه جوړول. که به چا پر کړ: بیا به هم د هغه هماغه خبره وه: برو بچیم!اي اتلري مغز اس خپل سر ته به یې په ګوته اشاره کوله: اي کمپیوټري کله اس د چغو او لاپو په زور به یې په خلکو خپله ناروا خبره منله. چې درې څلور نابلده به په لاس ورغلل. نو بیا به یې د جهاد قهرمان له ځانه جوړ کړ. روسان خو همده له وطنه ویستلي وو. انګرېزان د ده پلار شړلي وو او نیکه یې هم کم سړی نه و: د هند درې څلور فتحې د همده په زور سوې وې. خینې جنګونه به یې په خوله او حرکاتو تمثیلول. ما به ورځخه لږ دده په دې کوله. چې غیبت او شیطانت یې عادت کړخېدلی و. ځکه مې په خینو محفلونو کې په چاپلوسی ویل: یاره دانا صیب! اکه عقل تو از پاچا باشه دانا به نو لکه هوایي پوکنی ورو ورو له ځمکې لوړېده
یوه ورځ زموږ یو ملګری چې له لرې ځای څخه راغلی و. په نیک نظر دې راورسیږي ډېر ټوکمار او عجیبه پکې لا دا وه.چې د ده په خبرو به مو کولمې له خندا شنې شوې او دا به لکه ټوټې چاپېر و. هیڅ خندا به نه ورتله. نوم یې یارګل و یار ګل چې د هر چا یار و. خو له

دانـا سـره نااشنا و. موږ ملګرو خپلو کې مشوره وکړه، راځئ، چې دانا پـه عذاب کړو. یارګل ته مو دریشي ورواغوسته، عینکې مو ورپه سترګو کړې، وېښتان مو ورته په شړشمو تېلو ښه غوړ کړل او یوه کتابچه، دوه قـلمونه او یـو دانـه کوچـنی ټیپ، چې ښه ثبت یې کاوه، دا مو ورته ورکـړل. یارګل داسې بېسواده و، چې کله د ښوونځي تر څنګ هم نه و تېـر شـوی، خـو پـه اردو ژبـه ښـه پوهېده. موږ نو له یارګل څخه د رښتیانو د اسـلام ابـاد د رادیو خبریال جوړ کړ. دانا په یو دکان کې ناسـت و. مـوږ ورغلو او یار ګل لږ وروسته راپسې راغی. په ډېر مهارت یـې سـلام واچـاوه؛ سلام علیکم جي! موږ ټولو په شریکه وعلیک ورته ووایـه. ټولـو سـره یـې سـترې مشـي وکړه. بیا یې وویل: بهایون! مین اسلام اباد راډیو کا صحافی هون. میرے کچھ سوالات هے اگر آپ مین سے کوئـي جواب دین سکھے، تو اچھا هے هوگا. موږ ټول په اردو لږ لږ پوهېدو. دانا هم پوهېده، خو خپله یې نه شوه ویلای. ما سمدستي په ځـواب کـې ورتـه وویـل: دنـیا مین صرف ایک هے شخص هے کے کسے سـوال کا جواب بهی دے سکتاهے او ورو مې ګوته د دانا پر لور ونیوله او زیاتـه مـې کړه: یه سامنے والا دانا هے. دانا چې له وارخطایئ نه یې پـه خوـله کـې په شخوند یو څاڅکی لاړې پیدا او بیا یې تېرې کړې، سر لږ راپورته کړ:

- ها بیادر کهو کیا بات هے؟

- لوګون سے تهوړې دور چلتے هے.

- میجه ټیک هے.

- پلیز کمین.

د دانـا رنـګ بـیخې ژیـړ شو او یوه اندازه رپ پرې هم ولګېد، خو له غیرتـه یـې نامـردي ونـه کـړه، لږ لرې لاړل. یوه دقیقه وروسته یارګل هماغسې ولاړ او دانا راغی. دانا چې د راتلو سره په لاپو شروع وکړه،

مور ترې پاڅېدو. یارګل بېرته خپله سلیقه برابره کړه. دشپې په هوجره کې ناست وو. دانا یارګل هیڅ نه پېژانده. مور له دانا نه پوښتنه وکړه: دانا صیب! الی خو تو در باری خبرنګار ماره هیچ نګفتي، او چی میګفت؟ تو چي میګفتي؟

- او بیادرا! خوشی (...) خوده کتی بابی خود میخورد، مره میکه. شما چرا به وطن تان نمیری؟ مام ایتو دندان شکن جواب دادمش. که عقل شه دسرش اوردم. یار ګل چې په ټوکه نه خپه کېده، د دانا په ښکنځلو یې ځان هیڅ پوه نه کړ، خو مور خپلې کولمې په درد کړې.

یارګل: خو بیادرجان، اخر دیګه چي ګفت، تو خو بګو؟

- خی ګوش کو: به جواب سوالش که ګفت چرا به وطن خود نمیروي، ګفتم، تا به اټک وطن خود ماس. اګر ما الی بی خائیم، شوماره ای کده می تانیم. ګفت چرا در بین خود جنګ می کنید؟ بریش ګفتم، شما خو شغال استی، یک ګرګک سر تان پاچایي کده میتانه. ما شکر کلی ما شیر استیم و در یک جنګل دو تا شیر جای نمی شه، ما چرا شویم؟

- شما ره کی جنګ انداخته؟

از قار وغصه دسته بالا کدم، ګفتم الی از قار خدا نه بی ترسوم. دمی رویت دییم. امی شما مردم شیطان و لئین استی، که ماره نمی مانی. امی شیطانی و شیطانی بازی عادت تان است.

ورور ګله! چې په لاپو یې شروع وکړه: د یوې دقیقې خبرې تر یوې بجې پورې نه خلاصېدې. څو کنځلې یې د خبرنګار په نوم نورې هم یارګل ته وروشړلې، خو یارګل څه نه ویل. بیا ما وپوښتل، دانا صیب! تو خو ایقه اوردو ره نمی فامی. هغه خبره راغوڅه کړه: چرا نمی‌فامم! توتی واری کتش ګپ زدوم.

د شپې یوه بجه وه، چې دانا لږ سوړ شو، له غروره نېغ ناست و او یو بدبخته بالښت لاس ته ورغلی ؤ، چې کله به یې غبرګ کړ، کله به یې د پښې لاندې کړ. کله به یې غېږ کې کېښود. لنډه دا چې د بالښت هډوکي او بندوکي یې ټول ورمات کړي وو. همدې کې ناڅاپه د یارګل ټایپ په خبرو لاس پورې کړ.

پوښتنه. آپ لوک اپنے ملک مے کیون نهے جاتی؟

- بیادر اوجه جنګ هے، مردن کریګا. مام اګه اوجه جایګا، مرګ کریګا.

- کیو اپس مے لړتے هے؟

- هم کم عقل هے، بس نه پویګا او جنګ کریګا

- کون آپ کو لړاتے هے؟

- او روس امریکا ماره لړایګا. ما بیچاره لوک چي کریګا بس روپیه دیګا ما جنګ کریګا. شما خوب مردم هي، ماره جای کریګا. ماره نان کریګا. ماره از جنګ کش کریګا.

مور خندا واخیستو او په خندا کې مو دا یوه خبره کوله جای کریګا جای کریګا. دا سبه خو په یو ډول تېره شوه. نور به دانا زمور څخه لرې تښتېده، خو مور جای کریګا دومره مشهور کړ. چې د ماشومانو خولې ته هم ورسېد. چېرته چې به ماشومانو ولید: همدا یوه چغه به یې پسې کوله: جای کریګا، جای کریګا. اخر دومره عصباني شوی و، چې چا به دانا ته هسې هم وکتل، دانا به له ګرېوانه ونیوه او په قهر به یې ورته وویل: یعنې که جای کریګا؟ او جنګ به یې ورسره پیل کړ.

د ځوانی شوخي

انقلاب د ډاکټر نجیب وخت ته رسیدلی و او زموږ نهم ټولګي ته د "سپاه انقلاب" په نوم درې میاشتنۍ د عسکرۍ دوره اعلان شوه، چې د زده کونکو لپاره حتمي وه. موږ پوره یوولس تنه له یو ټولګي څخه د ننګرهار ولایت د عامې روغتیا روغتون د ساتنې لپاره وګومارل شو. د عسکرۍ دریشۍ یې راکړې. زموږ چې لا د ښوونځي د عصري پتلون نه زړګی ګړوب ګړوب و، خدای شته چې دا دریشۍ را باندې ډېرې بدې ولګېدې.

د تره زامنو' خپلو کې مو په مصلحت بوټان، پتلونونه او کمیسونه ټول کدوډ کړل. د یو شکېدلې اوږد پتلون او د بل شکېدلې لنډ کمیس او دوه دانې د ښې پښې بوټان یو تن واخیسته. دوه د کینې پښې بوټان. یو لوی کمیس او لنډ پتلون بل کس واخیست. همداسې مو څو کسه سینګار کړل او د نماینده کانو په صفت د دریمې ناحیې د منشي دفتر ته ورغلو. دفتر د همدې روغتون په دننه کې و. منشي ته مو وویل: ایا د زده کونکو سره همدا دریشي مناسب ده؟ منشي ښه په کړس کړس وخندل او پرته له کوم فکره یې امر وکړ: تاسو هیڅ دریشي مه کوئ! شپې ورځې د ځوانۍ په نشه کې ښې ګرمې تېرېدې. کله به مو کیسې کولې او کله قطې. چې کله به پیره داران وو، د شپې به له غیرته یو تن نه شو کرځېدای. دوه درې تنه چې به نه وو، نو بې ادبي دی معاف وي تشناب ته به هم نه تلو. کله چې به د مړو د کوټو په لور تللو، نو بیا به پنځه او شپږ تنه هم په دار روان وو او څه کلسې چې

وې، په ځان به مو چوف کولې. سره له دې سهار به راویښ شو، له ډاره به مو وښکي وتلي وو.

دا خو زموږ غیرت او مېړانه وه، او س به درته خپله شوخي ووایم؛ زموږ په ملګرو کې یو تن ډېر غټ او پلن و. ډېر زورور هم و. موږ به ورته غټو وایه. زه خو ورته ماشی هم نه ښکاره کېدم. یوه ورځ مې ورسره جنګ شو، له ګرېوانه مې ونیو. هغه په ارامه له دواړو اوږو نه ونیولم او په یوه ټکان یې د کوټې کونج ته وغورځولم. زه بیا را جیګ شوم. څو چې ورسېدم، د ده ستوماني وتلې وه، بیا مې له ګرېوانه ونیو او کنځلې مې ورته وکړې. هغه بیا راسره همداسې وکړل. لنډه دا چې درې ځلې دا عمل تکرار شو، خو په پای کې راته په خندا شو او ویې ویل: تباه شې، وړوکی یې او همصنپي مې یې، ګنې اوس مې هډوکي درماتول. ما هم د اول ځل لپاره د فکر څخه کار واخیست، چې رښتیا وایي. زوروره! ما ته هم خندا راغله، ملګرو هم وخندل، بېرته سره ملګري شو. د غټو د قطو سره چندان جوړه نه وه. هره شپه به یې له ویده کېدو څخه مخکې موږ ته ویل: وه هلکو! شور به نه کوئ که راویښ شوم، ښه به نه وي. که څه هم خوب یې ډېر دروند او ډوب و، خو په دې شپه یې بیا اخطار وړاندې کړ او ویده شو. د شپې دولس بجې وې، چې ما یو غږ وکړ: ملګرو! په غټو یوه لوبه نه کوو؟ ملګرو چې مې هم دا سات له خدایه غوښت، بې له ځنډه ټول چمتو ودرېدل. ستاسې له سترګو دې حیا وي، پرتوغاښ مو پرې خلاص کړ او ښه مو پراخه کړ. لرې مو له مخې په هغې شپه مو دال پاخه کړي و. یوه لپه دال مې راواخیسته او د غټو په پرتوګ کې مو

ځـای پـر ځـای کـړل. یـو بل ځوان یوه ټوټه موم هم راواخیستل او ورسره یې کېښودل. کله چې اکمالات بشپړ شول، بېړنه مو پرتوګ پرې وتـاړه. نـور نـو عملـیات سـر تـه ورسېدل. موږ بېرنه لکه پخوا قطو ته کېناستو. خندا مو ورو ورو لوړېده. یو وخت غټو خپلې سترګې وغړولې او ژونـدی شـو، خـو ډېـر خـپه او پـه فکر کې و. ورو شانته یې موږ ته وویـل: حرامـیانو تـر اوسـه بیده شوي نه یاست؟ موږ ځواب ور نه کړ. هغـه پـه کراره پایڅې پورته کړې او له ځایه پاڅېد او د کوټې مخامخ تشـناب تـه لاړ. مـوږ ټـول بهر دروازې ته غلي ودرېدو، چې یو ناڅاپه هغه له تشناب نه په کنځلو پیل وکړ. موږ هم مخ په بېرون واچول. هغه خلـک نکـل کوي؛ هغوی اته وو، موږ شپېته. هغوی سرد کوټکې وې، مـوږ سرد ټوپکې. هغوی چې راواچول، موږ ترې واچول بس په موږ هـم هغـه کانـه وشوه. موږ ټول ورنه وتښتېدو. شپه وه، هرد خوا تیارد خپره وه. پټ پټ ناست وو. کله چې غټو د باندې راووت. قسمونه یې ښـه پـه لوړ اواز یادول: والله که نور راڅخه یو هم دلته شپه وکړئ، ما دې کـوران ووهي، که راڅخه خلاص شئ. خو هغه چې څومره غټ و، همدومـره اوسـیله یـې هم لرله څه لږد شیبه تېره نه وه،چې غټو د ځان سره موسکی شو. زه ورسرد نږدې په یو بوټي کې پټ وم، خو غږ مـې نـه کاوه. غټو بیا په خندا شو او غږ یې کړ راځی. رنګونه مو ورک سه، څه درته نه وایم. چا د لرې ورغږ کړ رښتیا وایې؟

- هوکـی، راځـئ. والله کـه درتـه څـه ووایم. راځـئ چې کیسه درته وکړم. موږ هم یو یو له ځایه راپاڅېدو او خنداکانې مو کولې، چې غټو پـه کیسـه پـیل وکـړ: چې راویښ سوم، پرتوګ مې سم کڅوړه کڅوړه

کېده. سخت خپه سوم. ما ویل هلکه! دې وړو وړو هلکانو هیڅ ونه کړل او تا په دا غټه تنه، خدای دې تنه اره که، په پرتوګکې (...) وکړل! راجیګ سوم، پایڅې مې پورته کړې. ما ویل کوم پوټی راڅخه ونه غورځېږي او په کرار کرار او مهارت مهارت بیت الخلا ته لاړم. دال مې سي ولیدل .باالکل مې یکین وکړ. چې (...) مې کړي دي. خو چې د غوړو موم مې ولید، ما ویل څه دال خو زوندي راپرېواته. نو دا موم څنګه داسې غوټ روغ او زوندی پروت دی؟ بیا نو پوه سوم، چې تاسو حرامتوب کړی دی. اوس مې پکر کاوه، چې ګناه دې ما ده. که دې ما خوب دونه درووند نه وای، تاسو ته به دا وخت کله په لاس درغلی وای. رښتیا ده، "چې څوک خوب کوي، د هغه مېښه نر کتی زېږوي."

یو څه

خیرات غوښتل هم ځانله هنر دی. ډېر خیرات غوښتونکي پ. ډول ډول مهارت د بل له جب نه پیسې تر ګوتو کوي. د هغوی لومړی خبره له دویمې خبرې سره دومره توپیر لري. لکه (هغه) او (دغه) د بېلګې په توګه په ډېرې ناجرئ په کوږ څټ به ووایي: د خدای په رضا یوه روپۍ خیرات راکړئ. د الله په نوم یوه روپۍ غواړم! د جومات په چندې کې روپۍ نیمه امداد وکړئ.

موږ او تاسې دې هم خدای په خیر کړي. لکه څنګه چې ټول موچیان په اتفاق د بوټانو د رنګولو سره خپل سرونه خوځوي. همداسې موږ هم بې له کومې مشورې څخه دا یو خواب ټینګ کړی دی. چې (معاف کړه.) خو هغوی هم په پوستکي کې پاک نه دي. ځینې یې په شوندو کې کنځلې وکړي. ځینې یې ښکاره څه ووایي او نېغ شي. ډېر لږ یې سر ښکته واچوي او روان شي.

داسې یو ځل دکان کې ناست وم. چې یو سوالګر راغی. ورته ومې ویل. معاف کړه! خو څلورم کس ته مې چې معاف کړه وویل. سم را ته رانېغ شو او په غضب یې وویل: څه معاف کړه؟ دا مې دویمه میاشت ده، چې ته راته څه نه راکوې. همدا معاف کړه او معاف کړه! جب کې دې د پیسو پر سر لړم پروت دی. چې د چیچلو له ډاره لاس نه ورورې، که بم دی؟ ما ویل. لکه چې د دوی خپلو کې مشوره یوه ده او د یوه ګوند خلک دي، خو چې دریمه خبره مې واورېده، پوه شوم، چې ده بېچاره پخپله دوه میاشتې حاضرۍ راکړې ده او تر اوسه محروم دی. ځینې شومان وایي. چې میلمه د میلمه بدې شي او د

کـور ځښـتن دواړه، خـو زه وایم نه. سوالګر د سوالګر بدې شي او د سپي دواړه.

یـوه ورځ مـې ـ کلي.په دکان کې یو سوالګر ته څه ورکړه. زه کوڅې تـه ورنـږدې شوم، بیا مې هماغه ماما مخې ته راغی، ویې ویل: د الله په نوم؟

- زوروره! اوس مې درکړې او اوس بیا؟

سـوالګر له خـپله جبه یوه روپۍ راوویسته او پر ځمکه یې وویشته او په ډېـر غضـب یـې وویـل: څه دنیا دې راکړې ده! په یوه روپۍ چنډخه غـزلې نـه وایي. همداسې په ګوریدو ګوریدو روان شو. څو ګامه لا نه وم تللی، چې د همدې سوالګر چغې په بله کوڅه کې لوړې شوې او په قهر یې وویل: ته بیا ماپسې راغلې؟ نور مې درته ماغزه خرابیږي. که بـل ځـل مـې مخې ته راغلې. خام دې خورم. ته ما پېژنې، که نه؟ په مـنډه مـنډه مـې ځـان ورورساوه. ګورم چې د یو بل سوالګر سره یې شـور دی. د دوی پـه چغـو د سـیدول سـپی له کـورد راوړوت. داسې حملـې یـې پـرې وکـړې. چې جامې یې ورته له اغوستو وویستې. څو چـې سـیدول وررسـېده، دواړه یې ښه برابر کړل. کله چې د سپي له شـره خـلاص شول، کلي ته یې په کنځلو او ښېرا لاس پورې کړ او بیا یـې وویـل: د سـپو کـلی دی، د خـیرات ورکونکـو نه سپي ډېر دي. سـیدول تـه غوسـه ورغلـه او ورتـه یـې وویل: نه، ماما! له سپو نه خیر غوښتونکي ډېر دي. ځکه سپی یو دی او تاسې دوه. سیدول به لا نور څـه ویـل، چـې ما له لاسه ونیو، چې راځه سیدول اکا! دا هم ګرم نه دي. د جوزا بادونو یې په مغزو کې څه نه دي پرېښي.

یو بل ځل یو ځوان سړی راغی او لاس یې اوږد کړ: د الله په نوم یوه روپۍ راکړه!

- معـاف کـړه وروره! خـدای دې تـا ته هم ډېرې درکړي او ما ته هم ښې ډېرې. دا خبره نه وه، سم د ټوپک ډز و.
- خپله دې په یوه روپۍ زړه چوي او له خدایه ډېرې غواړې؟
- د ستا د خدای پاک په ورکړه زړه چوي، زه څنګه له خپل جب نه تا ته یوه روپۍ درکړم؟
ښه و، دا ځل یې جامې را نه ونه ویستې. د اصلي خبرې نه مې نورې خـبرې ډېـرې شـوې، خو خیر. زما د دکان تر څنګ یو ښایسته کور و. هغه یو چا په ډېره لوړه بیه واخیست او خپله کډه یې چې ډېر سامان یې درلود په یو لوی موټر کې راوړه. زه چې په خپل دکان کې ناست وم، نـور مـې نو خیاطۍ زړه خوړلی و. له ځان سره مې وویل: ښه موړ ګاونـډې خدای درکړ. که ځواني درسره وکړي او یو ښه کار درکړي، څومـره بـه ښه وي. سم له واره پاڅېدم او په دواړو لاسونو مې ورسره سـتړي مشـي وکړه او په ډېره غوړه مالۍ مې د کور د سامان په چلولو ورسـره پیل وکړ. کوم پیټۍ چې به دروند و، هغه به ما په دې نرۍ ملا راواړاوه او په کور به مې وردننه کړ. خو هغه به همدا یوه خبره کوله، خدای دې خیرات قبول کړه. چې کور کې ځای پر ځای شول، سهار بـه د وخـته په پاکو جامو کې ووت او مازیګر به په وخت خپل کور ته راغی. ما دې هم خدای لري، ځان مې ورته دومره خوږ کړ، لکه توره ګـوړه. د غـوړه مالـۍ پـه منتر مې په درې ورځو کې اندېوال کړ. بله ورځ راسـره په دکان کې ناست و، غورې مو کولې. یو ناڅاپه مې زړه راتنګ شو، ورڅخه مې وپوښتل: حاجي صیب! ته څه کار کوې؟
- تجارت.
- ما به له ځان سره چېرته منشي یا مزدور ونه نیسې؟
- په موسکا یې وویل: زما کار ډېر سخت دی، ته هغه نه شې کولای.

- چې څومره دروند کار وي اوپیسې پکې وي، زه یې کوم.
- دروند نه دی، خو سخت دی. راځه خدای دې خیر کړي، ګورو به.

نوره مې نو تمه ډېره شوه، ښه پوره غوړه مالي مې ورته شروع کړه. یوه ورځ د یوه لرې ځای په سفر روان وم، چې ومې کتل نو موټر ته همدا زموږ سوداګر ګاونډي راوخوت. کوچنی زوی یې هم ورسره دی. زما زړه کې تېر شول،چې اوس مې نو ځکه کار کیږي، چې خپل سیټ به ورته پرېږدم او کرایه به یې هم ورکړم. خو سوداګر چې څنګه راوخوت، ځان یې په ټپو ړوند کړ او ویې ویل: مسلمانانو ورونو! خدای پاک مو سترګې لره. زه په سترګو ړوند یم. واړه واړه بچي مې دي. که د خپلو سترګو خیرات یوه روپۍ دوه راکړئ، خدای مو خیرات قبول کړه. له ځانه سره مې وویل: هغه به نه وي. بیا مې ویل چې دا زوی یې نو... خو پوه شوم، چې هماغه زموږ ګاونډی سوداګر حاجي صاحب دی. ماشوم ته مې ورو غوندې وویل: څنګه یې بچو! ماما چې څنګه د سترګو په کونج کې زه ولیدم، له موټر څخه کښته شو. ځان ته ډېر په قهر وم، چې اشناګیه! تا چې غوړه مالي پیل کړه، نو په سوالګر واوښتې. مازیګر چې زما دکان ته راغی، نو خپل له لاسه تللی حیثیت مې بېرته تر لاسه کړ. خو هغه هم په عاجزۍ کېناست. ما ورته وویل: ماما! ته هر څه لرې، بیا ولې خیرات غواړې؟ بیا وایې، چې سخت هم دی!
- بچیه! دا یو عادت دی. لکه څنګه چې د لاس غځول سخت دي، همداسې یې راټولول هم سخت دي.
- نو دا خو ګناه هم ده. بې غیرتي هم ده او بې ادبي دې معاف وي، خدای دې مه خپه کوه، غټه دوسي هم ده!

- بچیه! دوسي هم ډېر غټ زړه غواړي. چې د سندا زړه ونه لري، هغه دوس کېدای نه شي.

له ځانه سره مې وعده وکړه،چې نور به په خپل حلال کسب شکر کاږم او چا ته به نه وایم، چې ما له ځان سره مزدور یا منشي کړه!

د لیکوال لنډه پېژندنه

شېر شاه سرتور د عبدالجلیل سرتور زوی په ۱۳۴۹ ه ش کال په ننګرهار کې زېږېدلی دی.

لومړنۍ زده کړه یې ترڅلورم ټولګي د زابل ولایت مرکز د شیخ متي رح په لومړني ښوونځي اوترشپږم ټولګي د ننګرهار مرکز تجربوي ښوونځي کې او منځنۍ زده کړې یې د ننګرهار د چکنوریو په لیسه کې تر یولسم ټولګي بشپړه کړې ده دولسم ټولګی یې د مهاجرت په حال د پېښورپه ابن سینابښوونځي کې پای ته رسولی دی. د اقتصادي ستونزو له امله یې تر اوسه لوړې زده کړې نه دي بشپړ کړي.

د ابن سیناپه لیسه کې یې څوکاله لومړی د لومړني ښوونځي دښوونکي او بیاد سرښوونکي دنده ترسره کړې ده.

اوس له یوې خیریه ټولنې سره خپلو هېوادوالو ته په کار بوخت دی.

چاپ او ناچاپ اثار:

۱. برګه چرګه: د طنزونو ټولګه (همدا اثر)
۲. ګلبڼ: د شعرونو ټولګه (ناچاپ)
۳. ریښتینې پېښې: طنزیه ریښتینې پېښې (ناچاپ)
۴. خرچمن: غزلونه (ناچاپ)
۵. تقدیر: لیندې کیسې (ناچاپ)

کور او د کور هیلې

موږ په ۱۳۷۴ هـ ل کال (۱۹۹۲ ع) د ختیځ د کلتوري او ټولنیزو چارو موسسې په نوم کار پیل کړ. په ۱۳۷٦ هـ ل (۱۹۹۷ ع) مو د ختیځ بیا رغونې ادارې (کور) په نوم خپل کار ته دوام ورکړ.

د کور د خپرونو څانګه هڅه کوي چې په خپله ژبه درنو هېوادوالو ته د هغوی د اړتیا وړ هر ډول کتابونه برابر کړي. په پښتو ژبه د علمي، څېړنیزو او تکنیکي کتابونو کموالی د دې سبب شوی چې موږ دغه ډول کتابونو ته د لومړیتوب حق ورکړو. موږ زیار باسو چې ګرانو هېوادوالو ته په نړیوال ستندرډ کره کتابونه وړاندې کړو. دا ټولنه سربیره په ګڼو داوطلبانه تصمیم نیونکې جرګه لري. موږ د کتابونو د چاپ په برخه کې د اړونده ځانګې له مسلکي وګړو سره مشوره کوو او د هغوی نظر ته له هر څه ترجیح ورکول کېږي.

موږ ډېره هڅه کړې چې کور پخپلو پښو ودرېږي، تر اوسه مو د کور په لګښت ډېر کتابونه هېوادوالو ته وړاندې کړي دي. هغه کتابونه چې موږ یې په یوازې ځان پېټی نه شو پورته کولای، نو له دوستانو مو غوښتي چې زموږ ملاتړ وکړي. د نورو هېوادوالو مالي او تخنیکي مرسته په اړوند کتاب کې ذکر شوې ده.

د کور د خپرونو څانګې یوازې د کتابونو پر چاپ بسنه نه ده کړې، تر اوسه دغلته ډېرو افغانانو ته د کمپیوټر زده کړې او پښتو فارسي ټایپ زده کړې زمینه برابره شوې ده. له ډېرو افغاني مطبوعاتو سره فني مرسته شوې او ډېرو لیکوالانو ته یو څه مالي مرسته برابره شوې ده.

زموږ ستره موخه د وران افغانستان په بیا ودانولو کې برخه اخیستل دي. له درنو لوستونکو څخه هیله کوو، چې موږ ته د کور د خپرونو په اړه خپل نظر او د خپلې خوښې د کتابونو په اړه ولیکي او د مختلفو څانګو له درنو پوهانو څخه هیله کوو. چې د خپلو بې وزلو هېوادوالو لپاره خپله پوهه و نه سپموي، موږ ژمنه کوو چې د هغوی پوهه په ښه شان اړو هېوادوالو ته انتقال کړو. او له هغو شتمنو هېواوالو څخه چې د وران هېواد د بیا ودانولو مینه لري، هیله کوو چې په خپلو مالي مرستو د کور کارونه همېشني کړي.

په خورا درنښت

ډاکټر محمد فرید بزګر، د کور بنسټ ایښودونکی او اداري مشر

ختیځ بیا رغونې اداري (کور) د خپرونو څانګې تر اوسه خپاره کړي دي:

۱- د سند باد پېښې (دوه ځلې چاپ)	۲۴- ژباپوهنه (ارواپوهنه)
۲- د طرابلس زمریان (تاریخي ناول)	۲۵- تواریخ: پښتون، افغان، افغانستان
۳- ولسي ملغلرې	۲۶- د اسلامي فقهي اساسات
۴- لنډۍ (د ۴۰۰۰ په شاوخوا کې لنډۍ)	۲۷- د موادو مقاومت (انجنیري)
۵- د خوب نړۍ	۲۸- سلګۍ په لویدیځ کې
۶- د سینې ناروغي او توبرکلوز	۲۹- اجتماعي نظریات "استاد ګل پاچا الفت (رح)"
۷- تشخیصي رادیولوژي	۳۰- د نشه یانو په اړه انتباهي ټوکې
۸- جراحي اعصاب (جلد اول)	۳۱- په افغانستان کې د قانون جوړونې تاریخي بهیر
۹- رهنمای عملي کاربرد دواها	۳۲- وېره د ساپوهنې په رڼا کې
۱۰- د کمپیوتر اساسات، ویندوز او کمپیوتري محاوره	۳۳- ګبین او ګبینۍ مچۍ
11- The Ethnic Composition of Afghanistan	۳۴- د پښتني قبیلو او خیلونو قاموس
۱۲- اوښکې د ښو په سر	۳۵- طبي مایکروبیولوژي
۱۳- رهنمای عملي طبابت اطفال (دو بار)	۳۶- اسلامي هېوادونه او په نړۍ کې مسلمان اقلیتونه
۱۴- د جزا قانون شرحه، لومړی کتاب	۳۷- د سرو زرو ونه او د ملانصر الدین نور په زړه پورې نکلونه (دوه ځله)
۱۵- د درملو د استعمال عملي لارښود	۳۸- د اریانا موقعیت او د اریائیانو ځینې جغرافیایي سیمې
۱۶- د اپینو لار (تاریخي ناول)	۳۹- د دخانیاتو په روږدو کې د ځنډنې برانکایتس پېښې
۱۷- د اروا پوهنې ښوونځي	۴۰- ارمانونه پرهرونه (شعري ټولګه)
۱۸- نغوتي او نغوړي	۴۱- د ښځې لیک لوست او یو لړ مهم حقوق او وجایب
۱۹- افغانستان: فیډرالیزم	۴۲- لومړۍ غلا (منظوم نکلونه)
۲۰- د پرښتې ځواب	۴۳- د بیزوګانو نکلونه
۲۱- په لومړنیو ښوونځیو کې د ژبې د زده کړې لارښونې او ستراتیژي	۴۴- د اقتصادي پرمختیا تیوري او پلان جوړونه (د اقتصاد پوهنځي لپاره)
۲۲- د هوښیارتیا تله (ارواپوهنه)	۴۵- یوه دقیقه یې منجر
۲۳- خرمړی (ټولنیز طنزونه)	۴۶- برګه چرګه

چاپ ته چمتو:

- د افغانستان پخوانی او اوسنی پولې، پوهاند غلام جیلانی عارض
- سرحدات افغانستان در طول تاریخ
- لوبې او پوهنه (۳) د ماشومانو لپاره خورا په زړه پورې هر اړخیز معلومات
- لوبې او پوهنه (۴) د ماشومانو لپاره خورا په زړه پورې هر اړخیز معلومات

ډیر ژر به چاپ شي:

- د نولسمې پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په پیل کې د پښتنو خینې استوګنځي
- نښه (د لندو کیسو ټولګه)
- یخچال او مدرن ایرکاندیشن
- د چرګانو ساتنه
- د نقلیه وسایطو تخنیکي قاموس
- د خاورې حاصلخیزي او د نباتاتو تغذي
- جغرافیهٔ اقتصادی افغانستان
- افغانستان در عصر صفاریان، سیدامین مجاهد
- د کاراتې اساسات
- ادبي لیکونه
- او نور

PROPERTY OF ACKU 11708

زموږ سره د اړیکو ټینګولو پتې:

Dr. M. Farid Bazger
G.P.O. Box 607, Peshawar, Pakistan
Mobile: 0092-(0)303 7869775
E-mail: kor_bazger@hotmail.com

او یا د دعوت د خپرونې له لارې: C/O M.Tariq Bazger
P.O.Box 289, 2001 Lillestrom, Norway
Mobile: +47-90856195
Phone: +47-63844385 Fax. +47-63844384
E.mail: dawatnet@start.no
Website: http://home.no.net/dawatnet

شیرشاه "سرتور"

Variegated Hen

(collection of short humour stories)

چاپوونکي: ختیځ بیا رغونې اداره (کور)

Khatiz Organization for Rehabilitation (KOR)

Email: kor_bazger@hotmail.com

تمویلوونکي: افغان لوست پروژه

Publication funded by:

Afghan Reading Project (ARP)